# پټې کرښې

د عبدالهادي ریشا

د اشعارو

لمړی مجموعه

۱۳۷۳

د مجموعې نوم.........پتې کرښې
شاعري.........عبدالهادي ریشاُ
دچاپ ځای.....کراچي
دچاپ شمیر.....۱۰۰۰ ټوکه
دچاپ سنه.....۱۳۷۳هـ، ش
۱۹۹٤ع،
لمړی مجموعه .
لمړی پلا طبع .

Download from; aghalibrary.com

PROPERTY OF ACKU 7050

PROPERTY OF ARIC Established 1989

# مُقدمه

واردگبنتی د مُحترم استاد پوهاند رشاد صاحب، استاد روح الله نقشبندی صاحب، محمد معصُوم هُوتك صاحب، عبدالباری جهانی صاحب، اختر محمد نعمانی صاخب، محمد انور نومیالی صاحب، او نورو دُوستانو او یارانو څخه په لمنو، لمنو، مننه کوم چی زما ناچیزی زما پر خپلو اشعارو کبنیناوه.

ددوی هڅونی او تشویق ماته جرئت راکړی چی ددی مجموعی و چاپ ته اقدام وکړم.

لومړی

Download from; aghalibrary.com

اوکه نه نو ما اجسکی ته چی به کله ناکله د خپلی شعری مجموعی د چاپ
چرت راولوید په صورت کی به می ورښکی سوی زړه به می ترتلو شوه سو ځکه
چی یوخو می د مقدمی د پاره مطبوعاتی ، کتابی ، عالمانه خبری نه وی زده خبری
می عامیانه ، دباندراو دیارانو د مجلس خبری دی .

بل می اشعار چندو دوایی او وزنی نه دی . اشعار می شعری رنګینی
ښایست ، نازک خیالی نه لري پښوخ راته ښکاریږی . نه خیالو زی نه دژبی
دتکیدو دی . نه دچاخوله او به ورته کوی . نه ادبی سپر مغ پر مخ لری .
دالاهم ورسره ترلی وه چی ممکن دیوچا دګټو سره ټکر وخوری ترګو سره
می لاندی کړی سوکی موکی می کړی .

نو به ملک راته دریاب وو ما ویل هری څپی چی پرزینګی واخستم
دیوه ګرداب ته څخه به می بل ګرداب ته غورځوی یا به می ادوبدوکی یا به می
ګرسره سنه راخته کړی . دا دول ذهنی او خیالی می مخ ته دوری هیسته
کیدلی ستړګی به یی راته کشولی

دنشراتی قانونی پوټکی به هم پرهرګام راته ولاړوه . پرهرپوټکی به
می نوکان خوړل . سرلاتی به می وهلی . که به می واقعیتونه ، حقیقتونه ویل
د زمری زړه یی غوښتی . که به می څپتی غوړول د شنوخته دلک کوتلی زړونه
نه په ټکوریدل . ارمانجن زړونه خوحق ویلو ، رشتیا ویلو ته بړی نیولی وی
دوی خیال کوی چی په رشتیا ویلو سره د زړه ټوله مرادونه حاصلیږی مګر
داسی حلوانده چی په وینایا یو شعر سره دی د زړه مراد حاصل سی

د چاپېرسرچي شپاړس کاله جنګي ميچېنې څرخېدلې وي. قوماندانانو ګېن ګرزېني ګرز. مارش مارش اودرش ورته ويلي وي دهغود مغز به څه بناد ي وي. کشکي ما دهغودانشمندانو، اديبانو، پوهانو په شان قلمي زور درلود اي چي دقلم په ژبه اونوك سره هم دتورې کارکوې هم د پرهار زړو د پاره تك پټرې پېنډکي وي.

زه چي دادب په شعري بياض کي خال نلرم چي رشتيا سې ترد وی پوري مي خانه خامه ده. اوهغه وخت به لانور هم خينګ سم چي دوی دپلټنې ادبي نوسي پرراوباسي اود دي مجموعې اشعاروشني ويښته په ويښته يې سره بيل کړي.

زه ددې دعوه نه کوم چي زما ټول اشعار به غلطي، نيمګړتياوي، ادبي ولفظي کمبود ي، تکرار، تکلف، تعقيد ونه، اوزمخت والې ونه لري حتماً به يې لري ولي چي زه استاد نه لرم. نه چاراښوولي دي نه مي شعرونه چاته وړې چي خالونه ورکښېږدي. نورشتيا، رشتيا درواغ درواغ چي داکار تر ځان مشر بولم. مګر پدي باوري يم چي مشران، پوهان ماغونډي دالله بېغي اول واریځ، اجسکې ترېغل باسي. اوپخپله حوصله مندي اوبزرګواری سره يې غلطي دعذرمطابق مني.

بنه اوس به نوراسم دي خبري ته چي ماپه ۱۳۲۶ سنه کي په شعرويلو خوله، قلم اوګوتې پوري کړي دي. اول شعرمې په هغوکلوکي چي يوه رباعي وه په طلوع افغان کي چاپ سوی ده. دونه مي پياد ده چي هغه

داسی وه:

گلچي ته وای . زه درسره وای
دسپوږمۍ شپه وای . شپه هم پخه وای
باغ کې روانو اوبو سره غاړه وی
دخوب په ډکو سترګو کاته وا

نورمی هم دانه مانه اشعار په مختلفو سنو کی په جرایدو کی خپاره سوی دی . د ۱۳۲۶ سنی راپدی خواتر ۱۳۵۷ پوری می داشعار یوه غوټګی درلوده . غوټګی په دی معنی چی په کتابچه کی می نه وه کښلی دغه سی دکاغذ وپرټوټو ډیکل سوی وی په ټوکرکی می غوټه کړی وه ، هغه په کنډهار کی پاته سوه ، کاښکی کړم ته ولویده . لکه تاسی چی ندی لیدلی بیا ما هم نه دی لیدلی . ګوره چی چا به تر وښولی وی . په تلاښیو کی به تللی وی؟ بولګه یی نه لرم خو زما د ښی و وتل.

اوس دستی علاوه پر دغه د پیتوکرز و پر مجموعی دوه سوه نور اشعار می په لاس کی موجود سته که می هر وخت دچاپ وس او توان پیدا کړ اورونډیاری راسره وکړه بیا به یی دخیر و دښی سره چاپ کړم . داګړی می داده د پیتوکرز و په مجموعه کی یو سلو دری شعرونه تا سوته په پردی وطن کی دمهاجرت دد یدنیو په حالا تو کی وړاندی کړه په دی مجموعه کی ما شعرونه تاریخ واره نه دی لیکلی نه می د موضوع په لحاظ ویشلی دی ، نه می په اوږ لوکی دشاول او رچی څنګه کار اخستی دی .

څلورم

هسې چې په مخه په لاس راغلي دي ليکلي مي دي. کيږي تاريخ درلودے ور اچولي مي دي کيږي نه درلودي ځمي نه دي يکښې وهلي، خواکثرو يې داوله سره لا تاريخ نه لاره. دازه د ځان کمال نه بولم بلکه زما بې وسي وه، اشعار ملفوف ندي، ساده، رد، صريح، اوزده ولنډ ويل سوي دي که څه هم اکثره شعرونه دد غه شپاړس کلو د جنګي حوادثو اوناخوالو په رنګ اوبوی لړل سوي دي. خوځنګه چې ماديره مخه رااخستي دي چين مي ندي پکښې کړي نو لکه د ملنګ ګدړي رنګارنګ دي.

زما د پښتو کړو مجموعې ته به د پښتو داد ب په خزانه کې د صرافانو سترګه وروانه وړي. د غه بل منګه بي سيکه، بې شومې، شکيدلې مجموعه به داسي خريدار پيدا نه کړي چې بيه پر کښيږدي. خو زه باوري يم چې د پښتو د خزانې د تهني په يو کنجک کښه خا مخا تر بااررزښه آثارو لاندې پرته وي.

# منـنـه

محترم استاد روح الله نقشبندي چې د کابل پوهنتون د هنر نود پوهنځي استاد دی. او د نقاشې په بين المللي حلقو کي پيژندل سوی چهره ده. زما سره يې په ډير مهرباني د پښتو کړو د مجموعې په خطاطۍ کي پوره اوزه و وهل تولو نوشته يې ده پر غاړه واخسته او پوره يې کړه.

دغه رنګه محمد معصوم هوتک چې تحقيقي، ادبي، تاريخي ډيري مغزني ليکني او غوره اشعار لري هر ځاى چې ادبي اثر ووينې ارنې ورته اخستې

وی حتی زما دغه مجموعه چی لا ادبی ارزښت نه لري هم ده ارزښت ورکی دلګښت ځګړي وتکاوه د چاپ د مصرف ځواني یی راسره وکړه .

زه دوی دواړو ته کوروداني وایم الله ج دی دوی ښه وساتي خدائ ج دی په ساړه بادنه وهي . درجې دی بلنداوسی .

عبدالهادی ریشاء

شپږم

# فهرست


| شماره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | لویه خدایه | ۱ |
| ۲ | مبارك علیه السلام | ۲ |
| ۳ | بیسوادی | ۳ |
| ۴ | ترانه | ۵ |
| ۵ | زیره لاسونه | ۶ |
| ۶ | غیږ په غیږ | ۸ |
| ۷ | دارلسلام | ۱۰ |
| ۸ | اعتراف | ۱۱ |
| ۹ | دزړه خبری | ۱۲ |
| ۱۰ | خپلواکی | ۱۴ |
| ۱۱ | اشرف البلاد کندهار | ۱۶ |
| ۱۲ | اتمه د مارچ | ۱۸ |
| ۱۳ | روك ویل | ۱۹ |
| ۱۴ | داسلحویومان | ۲۰ |
| ۱۵ | گیله من نازوکړی | ۲۲ |
| ۱۶ | داسلحو وزن | ۲٤ |
| ۱۷ | سوړسك او ښانك | ۲۵ |
| ۱۸ | دژوند او مرگ ډاکتران | ۲۶ |

| شماره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱۹ | د لمر رڼا | ۲۹ |
| ۲۰ | بی بی سی | ۳۰ |
| ۲۱ | دا غلی | ۳۱ |
| ۲۲ | رقعه | ۳۳ |
| ۲۳ | پټ لاس | ۳۴ |
| ۲۴ | هینبی سترګی | ۳۵ |
| ۲۵ | د تاړاک عُمر | ۳۶ |
| ۲۶ | بی خائنه هیواد | ۳۷ |
| ۲۷ | توره دربه | ۳۸ |
| ۲۸ | رنځور حال | ۴۰ |
| ۲۹ | دوصال خیال | ۴۱ |
| ۳۰ | بی امامه جماعت | ۴۲ |
| ۳۱ | پروني او نني شعرونه | ۴۳ |
| ۳۲ | د مزله خوبیان | ۴۵ |
| ۳۳ | په لس ها و هره ورځ مری | ۴۷ |
| ۳۴ | د زړه خوږ | ۴۸ |
| ۳۵ | تاراج | ۴۹ |
| ۳۶ | اړتیا | ۵۱ |

| شماره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۳۷ | نامیندی | ۵۲ |
| ۳۸ | پریامه تکیه | ۵۳ |
| ۳۹ | ملل متحد | ۵٤ |
| ۴۰ | دروزانو بستر | ۵۵ |
| ۴۱ | دخروسپاره | ۵٦ |
| ۴۲ | دبل په فرمان | ۵۸ |
| ۴۳ | دخټ ګریدل | ۵۹ |
| ٤٤ | غټ بوس | ٦٠ |
| ۴۵ | پرملاخم | ٦١ |
| ۴٦ | ونګه ونګه | ٦٢ |
| ۴۷ | دبل ترګټوجار | ٦٣ |
| ۴۸ | دشنوختۀ دِلک زړه | ٦٤ |
| ۴۹ | دنفاق تخم | ٦٥ |
| ۵۰ | دنفاق امبور | ٦٦ |
| ۵۱ | نوری بلاوی | ٦٧ |
| ۵۲ | مشترک تصمیم | ٦٨ |
| ۵۳ | نیکو کاران | ٦٩ |
| ۵٤ | دوطرفه چال | ٧٠ |

| شماره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ٥٥ | دګیدړی لکی ........................ | ٧٢ |
| ٥٦ | خوشمړی ........................ | ٧٣ |
| ٥٧ | د چوټی زندی ........................ | ٧٤ |
| ٥٨ | خیرنه ګدړی ........................ | ٧٦ |
| ٥٩ | رشوت خورته ........................ | ٧٧ |
| ٦٠ | سیاست ........................ | ٧٨ |
| ٦١ | زوړ موټرنوی دریور ........................ | ٧٩ |
| ٦٢ | پیغاغ ........................ | ٨٠ |
| ٦٣ | بی تاثیره پوخ تعویز ........................ | ٨١ |
| ٦٤ | ماخائن پیژندلی دی ........................ | ٨٢ |
| ٦٥ | اختر ........................ | ٨٣ |
| ٦٦ | څه برابری ........................ | ٨٥ |
| ٦٧ | د عصر تابلو ........................ | ٨٧ |
| ٦٨ | غافل شپانه ........................ | ٨٩ |
| ٦٩ | چوکی حمله که ........................ | ٩٠ |
| ٧٠ | د غوبنو کالان ........................ | ٩١ |
| ٧١ | تشی وعدی ........................ | ٩٢ |
| ٧٢ | د زمری زور ........................ | ٩٣ |

| شماره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۷۳ | تشي کلي | ۹٤ |
| ۷٤ | سنګوټ | ۹۵ |
| ۷۵ | په اوبنکو غسل | ۹۷ |
| ۷٦ | هرزه وابنه | ۹۸ |
| ۷۷ | رشتښي سران | ۹۹ |
| ۷۸ | ترلي زنه | ۱۰۰ |
| ۷۹ | وراني | ۱۰۲ |
| ۸۰ | مندوبنا | ۱۰٤ |
| ۸۱ | دال خور | ۱۰۵ |
| ۸۲ | ګرم سرد | ۱۰٦ |
| ۸۳ | خوږي منډلې دي | ۱۰۷ |
| ۸٤ | ترشا ټالي | ۱۰۸ |
| ۸۵ | زړي سکي | ۱۰۹ |
| ۸٦ | غوښې اوريښتان | ۱۱۰ |
| ۸۷ | دعشاقو ستر مجلس | ۱۱۱ |
| ۸۸ | دخزاني بالون | ۱۱۲ |
| ۸۹ | څني ورکه ده | ۱۱٤ |
| ۹۰ | د همت خواره | ۱۱۵ |
| ۹۱ | د کندهار ميوى | ۱۱٦ |

| شماره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۹۲ | خیری گرالبی | ۱۱۷ |
| ۹۳ | شلغم | ۱۱۸ |
| ۹٤ | د نیستی چاره ساز | ۱۱۹ |
| ۹۵ | توغندی راتوغوی | ۱۲۰ |
| ۹۶ | د غلو مله | ۱۲۱ |
| ۹۷ | دشیطان لینگته | ۱۲۲ |
| ۹۸ | اخلاقی بنایست | ۱۲۳ |
| ۹۹ | پیرندل سوی غله | ۱۲٤ |
| ۱۰۰ | غراره سوه | ۱۲۵ |
| ۱۰۱ | د مړو سترگو خواړه | ۱۲۶ |
| ۱۰۲ | د سولی طرفدار | ۱۲۷ |
| ۱۰۳ | پتی کروړی | ۱۲۸ |

بسم الله الرحمن الرحیم

## لویه خدایه

ټول صفات می ستا منلی پاک ربه — عقیده به می هیڅ نسی مذب ذبه
ته قوی یې. ته قهاریې. ته جباریې — پناه غواړم ستا له قهره له غضبه
ستا په امر په فرمان چی عمل نه وی — د هغو ژوندون ورځې له اخ ډ به
بنده گان دی سوه سرکښه ستا له امره — د اسلام کلمه تش باسی د لبه
بنده گان دی ځان ته نور بنده گانې غواړي — فرعونی مزاج پیدا له دی سببه
د ناحقی خونریزی تا منع کړی — روی گردان سوه له قرآنه له مذهبه
د روپو په حب کی شپه او ورځ اخته دی — ډیروی حرام اموال له د روه درَبه
ته دانا یې. ته بینا یې. ته بصیر یې — ته آگاه یې د سرکښو د مطلبه
د عاجزه بنده گانو ناره واوره — د شیطان پر دسیسو یې کړه اغلبه

امید وارد هدایت عبدالهادی دی
چی حضور ته و دریږي باادبه

# مبارك عليه السلام

نبوت د محمدؐ پر نام تمام دی
داسلام دین پرنړی علیٰ الدوام دی

هر حدیث یې د امت د پاره دُر دی
دامت له خوا پرده درود، سلام دی

چې پیرو د محمدؐ وی تل به ښادوی
د مرید سره د پیر هسی انعام دی

که پر لاری د رسول هر څوك رهی سی
وهغوته د هر چا تل احترام دی

پیغامونه پیغمبر راوړه د رب
مجموعه د آیتو د رب کلام دی

شپه او ورځ دواړه پیدا ده د دویه
زموږ له خوا درود سلام په صبح شام دی

په اُمت یې نن ورځ څه بلا ده گډه
کُشت خون دی خصومت دی انتقام دی

ستاله قوله ستادلار رو گردان سوه
ورته ایښی دښمنانو. لومه دام دی

زړونه ستاله محبت څخه خاسوه
حب دعیش دی، د روپوی، د مقام دی

یو دبله مؤمنان دی سره وروڼه
څه سوه پیښه چې د وروڼو قتل عام دی

پخته گان لاشفاعت ته منتظر دی
که ریښا سو گنهگار عقل یې خام دی

# بیسوادي

جامعه کښې چې سواد وي روښنايي وي
بیسواده جامعه کښې تاریکي وي
په لیک لوست سره کمال ته څوک رسیږي
چې نه علم، نه کمال وي نا پوهي وي
علم فرض دی هم پر نرا وهم پر ښځه
په رښتیا که څوک پابند قرآني وي
هر لوستونکی په دنیا او دین خبر وي
چه سواد نه وي ژوند خوشې نا داوي
په تیاره شپه کې څوک شې نسي لیدلې
په رڼا ورځ کې دسترګو بینایي وي
جهالت کې دلوړ تیا مخه وي بنده
په پوهې کې ګام، په ګام کې ترقي وي

په ظلمت کی له هرچاوی لاره ورکه
یو د بل سره د کی خوری ګمراهی وی
سواد والوته می داسی پیشنهاد دی
که په زړو کی مُحبت لری دُوستی وی
چی په ژوندکی یو همنوعه باسواد کړی
په جهان کی به امحا ٔبیسوادی وی

# ترانه

وطن نن کار غواړي    زحمت او زیار غواړي
راځئ لاسونه سره ورکړو خپل وطن کړو آباد    په خپل ملي اتحاد

پوهه تعلیم چې موږ وي    عقل تصمیم چې موږ وي
او د ځوانۍ قوت ملګري وي حتماً به یو ښاد    په خپل ملي اتحاد

ټبر ګلوي به پرېږدو    او ځان ، ځانۍ به پرېږدو
یو موطن یو دی هدف او مشترک مو مفاد    په خپل ملي اتحاد

تشې خبرې شعار    او بې عمله افکار
بې نتیجې وې بې ثمره . اقتصاد وي برباد    په خپل ملي اتحاد

که پرښتیا سره کار    ته هر افغان سي تیار
د جمهوري تربیرغ لاندې به کړو جوړ اقتصاد    په خپل ملي اتحاد

# زیږه لاسونه

سره ورکړی یو بل ته دوحدت لاس
دُورورې برادرۍ دا اُخـوت لاس

چې د سولې آواز پورتـه سي هر کنُج کی
زماد هغو په تائید کې دی اوچت لاس

چه بې وزله ضعیفان تـر لاسُو نیسی
هسی لاس وی د همت اود قوت لاس

لاس هغه دې چې په پاك کارکې اخته وی
نه چتل د چور رشوت یا خیانت لاس

خدایٔ راکړی دی سـم لاس د کارپاره
ولې کوږ و نیسو بل تـه سلامت لاس

زردانی وی په زیـږو، زیـږو لاسو کی
وبه نه وینې خوك پوست. د منفعت لاس

هغه وخت به موږ و رخيژ ولوړ منزل ته

که سوقطع دد ښمن دد خالت لاس

ربه تاته مي لاس پورته په دعادی

دريشا لاس کری دخير برکت لاس

## غیر په غیر

افغانانو غیر په غیر که سره ورسی لکه ورونه یو بو رار بل بـرادر سی
دهیوادو آبادی ته یو نظر سی په دی توګه پر موجودو ستونزو بر سی
که رشتیا په دی ټی کی ژوندون غواړی
که رشتیا و دی حالت ته بدلون غواړی

سره یو سی . یو وجود سی متحد سی د موجود جنګ ختمیدو ته مجاهد سی
هسی نه چی ورورد وروڑ سره ضد سی د خوښی د پاره هاند و کړی ممد سی
بوری خوشی کړی خطایی کړی د غاړی
یوم پر غاره کړی ودانی کړی و یجاړی

پر وطن باندی مینو افغانانو ای حزبیانو . مجاهد قو مندانانو
ای پښتون ، تاجک ، ازبک ، هزارګانو ای دټول افغانستان زړه سوانو
که جلا جلا روان یاست محوه کیږی
د جنګو په تاریکیو کی ورکیږی

تولید نسته دا وطن په جنګ برباد دے  بنه پوهېږي چې ګډوډ مو اقتصاد دے
د ګرانۍ څخه هر ځای داد د فریاد دی  د تاریخ لا کله داسي حال په یاد دے

په یوه ګوله ډوډۍ بل ته احتیاج یو
لا تر څو به بند د فقر په مزاج یو

موږ د فقر په ډوډۍ کله مړېږو  موږ د بل په لیلامۍ کله پوهېږو
په خبرو په چرتو کله چاغېږو  بلکه ورځ په ورځ تر دغه لا تېږو
اوس لستوڼي را غښتل موږ ته په کار دے
و کار وته ملا تړل موږ ته په کار دے

# دارالسلام

وهغوته تل د خلکو احترام وی
چې دې سترې په خدمت سره مدام وی

په دوستۍ کې چې ملت ته خیانت کړي
هسې خلک بیا په خلکو کې بدنام وی

په پیسو چې بدنامي اخلي وځان ته
داسې خلک بیا د عقل د خوا خام وی

خدایه واړو ته توفیق د خدمت ورکړې
چې د هر سړي ترمخ عالي مقام وی

افغانانو ته د ربه هسې غواړم
چه زمونږ گران افغانستان دارالسلام وی

زه ریشاء یم د هغې ورځې په طمع
چې په سوله کې ژوندون د خاص عام وی

۲۴ حمل ۱۳۶۷

# اعتراف

ماویل زه که د ملت نماینده سم　　نوهرومرو به دوی لره فایده سم
مالید لی هلته بد حال وود خلکو　　اوس چی د ی تالارته راغلم نادیده سم
هیڅ می نه وکړه د خپل اولس د پاره　　بی له دی چی په شخصی کاروا ختهٔ سم
زما همزولی څی چتک پرمخ روان دی　　دا زه ولی تر سیالانو پس مانده سم
په امید سره ودی تالارته راسم　　خو نصیب چی پوره نوی پس رفته سم

ورځ می تیره په دوړې کوښن معاکړه — چي څوك حال رانه پوښتي نو ګنګوره سم

داولس می هیڅ غوښتنې پوره نکړې — چي وخپل عمل ته ګورم شرمنده سم

یا به تل دخپل اولس په مخ کې پړ یم — یا باید چي تېر تر خپله عقیده سم

زما په خیال چي دغه دواړه نامعقول دي

بنه به دا وي چي پر حق لار رونده سم

۱۵ د حوت ۱۳٦۸

## دزړه خبرې

یو دی دخولې بل دې دزړه خبرې

یو د مسؤل بل دواړه خبرې

دزړه خبرې هرځای کله کیږي

دانه دی هرځای دپانډله خبرې

ستر گی پر حق باید چی پټی نسی
له ژونده پس نه کوی صبره خبری

بعضی خبرو هر څوك نه پوهیږی
لکه په خوب کی د بیده خبری

بعضی خبری بی ویلو د خولی
خلك پوهیږی چی دی څه خبری

په زړه کی هر سړی په هر څه وی پوه
نسی کولی څوك په خوله خبری

خبری اوس په اشارو سره سوی
یادګونګی یا دی د غله خبری

ریښتیا وایی ولی منده خوله نیولی
نه راته وکړه یو څه بنه خبری

۱۸ حوت ۱۳٦٤

# خپلواکی

اتویشتمه داسد دآزادی ورځ　　زموږ دګران افغانستان دخپلواکۍ ورځ
دسرتیرو سربازانو. سربازی ورځ　　دافغان اولس دویاړدنیک نامی ورځ
پر موږ فرض ده دخپل ګران هیواد ساتنه
همیشه به یې ساتو موږ له دښمنه
مېړنی زړه ورانتل قهرمانانو　　افغانانو، سربازانو، ملالیانو
ای دټولو ضعیفانو مرستیالانو　　دهیواد د حفاظت پیره دارانو
په نامه مواولس ونه افتخار کړی
هیوادوال موتل خدمت انتظار کړی
یاست روان د عدالت پر لار مغروره　　خوندی کړی مو وطن دبلادچوره
څلولی مو د جنګ پر میدان توره　　آفرین دی مور دی نسی پرتابوره
ستادتوری ترشپول لاندی ټول سرحدے
فولادی سد دی جوړ کړی پر خپل حدے

ته څښتن د لوړ مورال عالي همت یې | مل سوی په غیرت په شجاعت یې
مدافع د خپل هیواد د حریت یې | ټینګ ساتونکی د ضعیف د منفعت یې

بری ستا دی هم په سوله هم په جنګ کې
بیګانه له میانځه وړای سی په د ړد نګ کې

څو افغان وي د غرور به نمانځل کیږي | تبریکي به یې واوریل ته ویل کیږي
مل سوی افغانان به منل کیږي | خپل واکي به ترا بده ساتل کیږي

داسی هوډ وکړي هر سرباز افسر ده
د دوی هوډه او مړانه د باور ده

۱۳۶۸

۲۸ اسد کابل

کندهار
٤ د حمل ١٣٦٧

# اشرف البلاد کندهار

کنډواله سو هغه ښکلی کندهار هر سړی یې غمزده دی خوار زار
خلک ټوله وارخطا ښې الوتي لالهانده گرزي نه کسب سته نه کار
خوشبويي د گلونه راځي مشام ته د باروتو بوی ورکړې دی اهار
د انارو باغ په وینو اوبه سوي ځکه زړه د وینو ډک دی د انار
میله یان په جنازو پسې رهي دي ځني پاته سوي میلي د شالمار
د سپرو غزلو ږغ اوریدې نسم د توپ ږغ دی تا ډنګونو غرومبهار
هک پک ناست دي بې غمخوره سرنوشته هر ساعت دي د مرگي په انتظار
د اکاني په مور د چا د خواخه کیږي چا جوړ کړي دي پر خلگو د اناتار
پښتني بيبياني چاکړي بوري ورازي کم نا ترسه یې اولاد کړي تارمار

راسی ورو نوآینده ته فکر وکړو — موږ و تاسی ته یوځه فکر په کار
دخپل پلار او د نیکه وطن آباد کړو — خپل کوڅه بازار. بیا وروسته ټوله ښار
یو و بل ته دوروری لاس ونه ورکړو — زه وتاته. ته وماته مددکار
چی موسرو خپل اولادته کښنته نوی — راته پاته دغه مینه ده د پلار
دهرچا د پاره لوی مسؤ لیت دی — چی دا ګړو بی کنډوالی بیا کړو اعمار
انسانان په آرامی کی پورته کېږی — په جنګو کی خو یا پروت وی یا وی غوزار
لاس تر زنه کښېنیستل نور ګناه ده — باید نن ورځ حرکت وی زموږ شعار
داحمد، اود میرویس له قبره دا ږغ — پورته کېږی چی موږ دیری یو بیقرار
که په خپل میانځو کی تاسی جوړ راشی — نو بابا، نیکه مو دواړه کړه آزار

دبابا، اودنیکه ږغ تاثیری وو
چی ریښتیا سو و دی شعرته وادار

کندهار
٤ حمل ١٣٦٧

# اتمه د مارچ

پر هغو ښځو هزار ځله سلام دی　　چې یې کړی آزادی لره قیام دی
سر مو ټیټ دې د دوی سترو کارنامو ته　　ځکه دوی لره حاصل عالی مقام دی
آرزو یې حریت پر اسارت وه　　دا خواهش یې د بشر د پاره عام دی
پر دې لار یې قرباني کړه ځیل سرونه　　مګر پاته یې د تل د پاره نام دی
څو نړۍ وي دغه ورځ به نمانځل کېږي　　پر اتم د مارچ یې جشن تل مدام دی
چې ښځمنو ته نن ځیل حقوق رسیږي　　خو د دوی قهرمانۍ د دوی مرام دی
دا نړۍ ټوله په ښځو ده ودانه　　وا ولاد ته یې خدمت په صبح و شام دی
مور روزلي کاشفین، مخترعین دي　　ترابده پورې دغه کار نا تمام دی
نو یې حق دی چې و دوی ته درناوی کړو　　همیشه دوی ته تعظیم دی احترام دی
ښځې وایي موږ به هلته یو خوشحاله　　چې د جنګ په ټول بشر کې اختتام دی

موږ د سولې پلوي کړو په نړۍ کښې
زموږ د ټول جهان د ښځو دا پیغام دی

۳۰ د دلوی
۱۳۶۶

# روک ویل

چا ړهلي چي د رګاه د چا په نوک وي | د هغو پرمخ وهل باید په سوک وي
چي په پته د ښمني د خلګو کاندي | وهغو ته جواب نه باید رُوک وي
که بدي د خپلو ورو نو هر چا غوښته | ورلوید دي و دوی ته د زړه دوک وي
او ښیګڼي د هم نوع کړي غوښتي | هسي خلګ په نړی کښي نیک سلوک وي
کړ په خوله و مسلمان لا ړئ د کفر | وه نیولي داسي خلګ بیا مشکوک وي
که عمل يي د ګفتار سره یو نه وو | دوی د خپلو اولسو د خوا متروک وي
نیکو کار ته چي په بد سترګه ګوري | خامخا به داسړی ړوند ویا چوک وي

ریشا هغه وخت د سیال سره سړی
چي وځان ته یی ور کړي تحرک وی

۲۰ سرطان ۱۳۶۸

# داسلحو یومان

دکارگر دلاس تنها کوته چی څېږسم
ترنظر می نږی واره څراغان سی

چی دغروزږونه راباسی په منګولو
داسی زورته انسانان پاته حیران سی

وفولادته چی یی ورکړه وزرونه
وسپوږمی ته یی سفر په یوه آن سی

هم دمځکی په شکم کی په سرعت ځی
داوُبو پرمخ هم تګ ورته آسان سی

خواهشات دانسانانو په پوره دی
که دجنګ پرځای په کارکی شریکان سی

دتوپك پرځای که یوم پراوږه واخلی
نوله ورږی به دلوږی په امان سی

د تندی خولی چه خاځی په دښتوکی
طراوت سی خوشبویی رنګه ګلان سی

پیش رفتونه تر دی نور لا دیر ممکن دی
که تانکونه ، راکټونه موټران سی

د بشرته به وافر سی نعمتونه
اسلحې که تول وتلی یومان سی

۱۷ د جدی ۱۳٦٦

# ګیله من نازوکړی

وطن والو پر وطن څه مصیبت دی      ورونه. ورونه سره وژنی هلاکت دے
راکټونه، بمباری دے مرګ وورولبله      دغه ټوله ډېره ډیره د خالت دے
لاس تر زنه کښېنستل موږ ته ګناه ده      د هر چا پر غاړه د دروند مسئولیت دے
نباید چی د و مری سو بی تفاوته      چی پردی حال وایو خیر خیریت دے
دیو څو کسانو ژوند که مستریح وے      تاسو وینی پر عمومو څه قیامت دے
د دې کتل و دے اوضاع ته جایز ندی      خدای رښتیا چی هر سړے نن ملامت دے
دا وطن آباد ول له موږ نه غواړی      راځی ورونو چی نن وخت د حرکت دے
په لمړی سر کے د سولی راوستل دی      بیا دغه رنګ اتحاد په صداقت دے
هسی نه چی زه پښتون یا هزاره یم      یا تاجک، ازبک، بلوڅ. یا بل ملت دے
ټول په ګډه د دے خاورے څښتنان یو      په یو والی کی ډېر خیر او برکت دے
د خبرو وخت اوس ندے وخت د کار دے      د عمل دی. وخت د خلکو د خدمت دے
که موږ ټوله لاس په لاس کے سره ورکړو      حتماً جوړ زموږ دیوالے ستر قوت دے

دا قوت چې استعمال سي په اعمار کې
خامخا د اوړانه هیواد جنت دی

باید اوس لا فکر وسي آینده ته
که نه پاته او لا دو ته خجالت دی

نازو کړی به لا زمور څه ګیله من وي
اوس نو وایاست ورونو څه مصلحت دی

که د مرګ په انتظار کې ورته ناست یو
دا بیا کله دا فغان اولس غیرت دی

د سلیم عقل پېروچې سو بهتر ده
دریشا په خیال چې دغه منفعت دی

۲۶ د حوت ۱۳۶۸

PROPERTY OF ACKU 7050

# داسلحو وزن

سنگین بار پروت د بشر پر ولی باندې
انسانان د اسلحو تر وزن لاندې

دا بار ونه. نه د ورونه تحمل دې
ملتونه تر دې بار لاندې مړ ژواندې

د نجات پر امید هیښې سترگې گورې
ورځې تېرې لوږې، لڅنې، اوږ بغړاندې

شاوخوا توری دود زنی سرې لمبې دي
گرزی خلک دوری هیسته لالهاند

څگرونه په سرو وینو دی لړلی
دزخمو څخه یې وینې دي بهاندې

خوږ څو به تر سلاح لاندې څتان وې
ظالمان به دا کانی تر کله کاندي

که سلاح. لوږې، پوهې، انسانی نیت
خو پر هسې عملو انسانان خاندې

د همنوع پر حزین آواز غوږ کښېږدې
چې زاره، واره، یې دي تانده لباندې

په خپل کور کې چې آرام ژوندکې وپاته
نه چې گوسې ویشتل کېږی له دباندې

دسر وا بسکو بهید وگاز اسلحه ده
چې د هر کچنی، بود استرگی ژړاندې

عدالت دی چې هم نوع وخوشحاله
هسې نه چې لورو و مور یې وا ساندې

دبې وزلو، ورورو تر. و . بې وسانو
د هوسا ژوندون دپاره مخ په وړاندې

حوت
۱۳۶۴

# سوړسک ونبانک

په نړۍ کښې چې د اهر شي د خوړک دي
کچالو، دي که رومي. دي که پالک دي
که غنم دي که اوربشې جوار دي
که میوې، که تر کاري ده که مرچک دي
د غه واړه د بزگر د لاس محصول دي
شپه او ورځ وزراعت ته ولاړ کلک دي
زموږ د ژوند د آرامۍ د پاره کار کړي
بیل پلاس کې خوشي کړي یې توپک دي
خپلې نلرې په پښتو پټکي په سر کې
خیرې گرالبي پر پانډ له ولاړ هک پک دې
مگر بل ته یې رنگین ستر خوان خپور کړې
د ده مخ ته کلک سوړسک دے زوړ ښاند دي

بایدمور د دهقانانو ممنون اوسو
هر دهقان چې د پښتون د کډ اوزبک دی
زه ریښا د کروندگرو منت باریم
احترام می هر بزگر ته یکایک دے

۳۰ سنبله ۱۳۶۷

# ډروند او مرګ ډاکتران

نه پوهیږم چې داکم انسانیت دے کمه پوهه ده کم عقل څه حکمت دے
وبشرلره راغلی څه غفلت دی چې پرمخ د تباهی بشریت دی
ورونه، ورونه سره وژنی هلاکت دی
دا بیا څنګه ورور ګلوی او اخوت دی

مکر وبونه دی کشفیږی چی مرګ نه وے　　دارو ګان ورته جوړیږی چی مرګ نه وے
زراعت تقویه کیږی چی مرګ نه وے　　نورهم ډیر مصارف کیږی چی مرګ نه وے

ژوند اصلی هدف . صحت یی ضرورت دے
نو د مرګ او بدامنی څخه نفرت دے

بل طرف د انسان مرګ ته اسلحے د ے　　قتل عام ته زروے بم طیاری دی
کشت خون دانسان مرګ لره پلمی دے　　دهرچا څخه د مرګ وسلی پرتی دے

تباهی ته د نیوترن د بم نوبت دی
آیا دغه نو خدمت او عدالت دی

انسانانو ولی لار ده درڅه ورکه　　ولی ګوری همنوعانو ته په سپکه
څه بدی ده په آرام ژوندکے وروکه　　چی په جنګ سره پرخلګو سره ډځکه

خو په سوله کے دهرچا منفعت دے
بیا وجنګ او دښمنی ته څه حاجت دے

که رښتیا څوك د بشر ښیګنی غواړے　　که رښتیا څوك جوړوے ورانی بچاړے
که رښتیا څوك خلاصوے خلګو ته غاړے　　خو په سوله کے رسیږی چاری واړے

ژوندیوالی ورور ګلوی سوله وحدت دے
او که نه بشرتر دی په فلاکت دی

غوارم سوله چې وي هېنګه په دنیا کې  انسانان نه وي ښښتي په بلا کې
عداوت د ښمنۍ نه وي په هیڅ چا کې  دوروکړ روحیه هېنګه وي هر چا کې
دغه عین علمیت معقولیت دی. او که نه
نوژوند موخوشی جهالت دی

۵ سنبله ۱۳٦۰

کابل

# د لمر رڼا

د پسرلي ګلونه تل غواړم / ځکه هیواد سمسور ول غواړم
د تاریکۍ او د ظلمت د کنده / د لمر رڼا ته راوتل غواړم
دغه لویدلي ځوریدلي اولس / پورته کیدل او لوړیدل غواړم
چې افغانان ټول وي په جمع جوش کې / هر ولایت لکه کابل غواړم
که څوك ملت ته خیانت کوینه / دوی له صحنې څخه ایستل غواړم
پاسته لاسونه زه نور نه مچوم / زیږه لاسونه مچیدل غواړم
د جنګ په اور کې اوسیدل تر کله / د سرو ګلانو اوسیدل غواړم
افغانستان د افغانانو کور دی / افغانان واړه رابلل غواړم
چې خپلې مځکې خپل پټي آباد کړي / دوږوشو مو مړیدل غواړم

ریشائی نه غواړي خوښي ونځانته
هر څوك خوښي ته رسیدل غواړم

۲۲ د حمل ۱۳۶۶

# بی بی سی

کندهار
۲۸ حوت ۱۳۶۶

چې می کله اوریدلی بی بی سی ده
که اردو ده که پښتو ده که فارسی ده

په تـرخـه ژبه کوی خوږې خبرې
زما په خیال چې داسی ژبه سیاسی ده

دخبرو په پالش کې ده ماهره
ځکه دی لـره حاصله برلاسی ده

دبل گټی کله نیسی په نظر کی
خپل مطلب یې دخبرو پالیسی ده

آزادی یې نه خونبیزی و بل چاته
تش په خوله سره یې تل دیموکراسی ده

نو کان جنگوی چې دوه پرله اختروی
دغه مشی . دغه لاری اساسی ده

دجنگو خبری ډیری په خوند وایی
سری لمبی ورلره بنه گل هوسی ده

شاید بل چاتر ما بنه وی پیژندلی
ماریشا خو کړی هسی بـرسی ده

# داغلی

لکه ناوی هره درخته ده ولاړه        زرغون شال یې دی پر سر هسکه یې غاړه
وای راځه آشنایه ماته نور مه ژاړه        ځان راو باسه له هغه سره اهاړه
تر سایه لاندی به ناست یو لاس تر غاړه
پر راینه دی دژوند له ما څه غواړه

پلوډک می د خوږو، خوږ و میوو د ے        هم د ناکو، زردالو، هم د منودی
ما ساتلی ستا د پاره په بلگو د ے        و بغل ته می شین رود د شنواو بوډے
زما پر شا و خوا څه ښکلی منظره ده
چه ته نه یې زما پر سر د غم اره ده

ولی نه راځې زما تللی مسافره        چې دی وا ورمه شپلي خوږه سندره
هله و ناځم به بن کی زوره وره        په هر څرخ کی میوې و پاشم شکره
یم ولاړه ستا را تگ ته انتظاره
ژر راځه زما و طرف لره بی خاړه

که ته هلته وڅنګ د پوست مې وچیږې        بناخ لړزیږې د حیا برګ مې رژیږې

دا تازه وجود مې سوځي ایرې کیږې        اره کیږې، دړې کیږې، یا مایږې

ولې نه راځې له ما څخه بېرېږې

او که ته زما په بنایست سره شرمیږې

همزولانې هم ولاړې یاران تللې        دوی له خپلو معشوقو نه ګرزې غلې

چې راغلې هم بنا غلې هم آغلې        چې ځوک پاته دې حتماً چاډې داغلې

پلو نه بنورو مه ستا و خواته

هله راسه ژر ورماته ژر ورماته

۷ حمل ۱۳۶۹

# رقعه

په جنګو کې کُشت خون وې خرابي وې
یو د بل څخه نفرت وي دښمني وي

په ښځمنو او کچینانو بغي ګډي
سرې لمبې وې تور دودان وې حیراني وې

موږ اته کاله په دې ناورین کې تیر کړه
راسې اوس دې نو وروري برادري وې

په جنګو کې وې تاوان هیڅ ګټه نه وې
خو په سوله کې خوښي وې خوشحالي وې

څو تر څو به سکه ورونه مرور وې
لا تر کله به دوري . دربدري وې

خوابدي پریږدې رائې خپل کلي کور ته
څو تر څو به خوابدي مسافري وې

اوس باید د ځان اولاد غمونه وخورو
که مقصد مو آرام ژوند او هوسا وې

۳۰ حمل ۱۳۶۶

# پټ لاس

سکه ورونه یو د بله جنګوي څوک | یو وبل ته افغانان راپاروي څوک
اپلرونه نیکه ګان مو ولې هېرسوه | د بابا هډونه نن ورځ خرڅوي څوک
تاریخي هستي مو واړه پردو یو وړه | تش کچکول مو درپه درکې ګرزوي څوک
افغانانو لره تل ملي وحدت وو | پر یوه او بله خوايي کښوي څوک
پټ لاسونه مو مانع د اعتلا دي | که په دې مرموز حالت ځان پوهوي څوک
ترهر څه ملي وحدت راته پکار دی | که اولاد یا نازولي نازوي څوک
په یووالي کي قوت او برکت دی | د یووالي ماڼۍ ولې نړوي څوک

دریشاوي یناوي واړه د زړه درد دی
خوار بسنکي ریشاولي درد وي څوک

# هیبنی سترګی

۱۵ ، ۶ ، ۱۳۶٤

پـه نړۍ کې چې بلېږي سره اورونه — یا لمبې راپورته کیږي شنه دودونه
داو هرچاته چې نن خپله مځکـه سره ده — ویني . ویني یا یې اوري خبرونه
بشر نن ورځ تر بل هر وخت وار خطا دے — د باروتو بوی یې رنګ کړه دماغونه
که دایمه صلح راسي و جهان تـه — هغه وخت به وي نړۍ بنا یسته ګلونه
داد ټولو انسانانـو آرزو ده — چې نـه جنګ نـه د ښمنۍ وي نه مرګونه
داګره که و بشر لره کوره وه — نو به خدای ته ئے سکاره وے پوست هډونه
او که مري د جنګ لمبې سي په نړۍ کښې — وي عوض یې سره غور ځکه څراغونه
هغه وخت به موخوړه ګوله تر خوله سي — په تو پو کې چې ګولې و خوري زنګونه
لځ لیړ خلک به هغه وخت پوهیږي — چې د زغرې پر ځاجوړ کړي لباسونه
وهر چاته به کورونه هلته جوړ سي — چې نړیږي، چپه کیږي، سنګرونه
اوس به ګورو د سرانو فیصلو ته — چې به ګورو ځان ته جوړ کړو که کورونه
ملیارډونه خلق هیبنی سترګی ګوري — دلویانو کړي د سـو لے امیدونه
ریښا هم د انتظار سترګی نیو لے — چې به و خوري ککري که نعمتونه

# دتاړاک عمر

زړه مې چوي له غمونو څه چاره کړم — خپل خوږ من زړه کم طبيب له ښکاره کړم
هره ورځ نوي دردونه راته پېښ دے — تحمل نشته ځان څنګ اداره کړم
مصيبت پر مصيبت راباندې اوري — يوه ورځ به د زړه وينې فواره کړم
مخامخ وچاته حال نسم ويلاى — دګونګي پشان خبر په اشاره کړم
خدايه ته مې وژغوره له دغه حاله — بل وچاته له دې درد څخه ناره کړم
ته د ټولو بې چاره وو چاره سازې — زه بدبخته دې تر ټولو بېچاره کړم

وريشائته دې قوت د وينا پاتـه
په ځاني توان دے هغو مره بيکاره کړم

# بې ځائه هیواد

چې د خلګو تر مابین خوشحالي وي
پـه هيوادکې پـه يوه زړه اهالي وي

ديوه هدف پر لوري حرکت وي
پـه کاروکې يو د بل سره سيالي وي

مشران د هيواد والو پـه خدمت کښې
حاکمان وي که قاضي وي که والي وي

چې د ځان ګټې تر بل تر ګټو جار کې
پـه ملت کې د هغو مقام عالي وي

او که حب د ځان ځاني خود پرستي وي
مسايل پـه هغه ځای کې جنجالي وي

خدايه مور نه هسي بند رهبر اراکړه
چې پـه زړه کې يې تنها اولس پالي وي

زه ريښائيم د هغې ورځې پـه طمع
چې وطن د خاينـو څخه خالي وي

# توره دربه

لوړې دې ژورې نيمه شپه ده لاره ورکه ده
لوړ د موره ورکه ده د زوې ورکه مورکه ده
لوږه ده يخنې ده د مزله خوړې موختم سو
نور له دې حالته د هر چا په ړزه کې کرکه ده
توره دربيله ده دړانده پښان ليدی نسم
آورم آوازونه چې د خلګو مکه، مکه ده
څم مخ ته رهې يم خو مزله ته رسيدی نسم
ډير يم ستړې سوې ګوره پاته څونه مځکه ده
ژړکه سهارنسو او دلمرو رڼاګې خپرې نسوې
پوه سې مزله والوچې خبره موغړکه ده

ولاړه بلبلان د باغه وتل خزان راغلی
ناسته د بنا خلی پرسرپېره دی توره چوغکه ده

څونه په تاریخ کی په درانه تول تلل سوی وم
نن می د درنښت پله ترهره سیاله سپکه ده

هر وخت که رڼا سوه د ترور می پېځول لیری سو
هغه وخت په وړاندی دریشا ئخغا سته چا بلکه ده

# رنځور حال

رنځور ژوندی مې د صحت په اُمید
له ډیره ضعفه د قوت په اُمید
د رنګ زردي چاته کتلی نشم
له خجالته د عزت په اُمید
عُمر په فقر ګدائي کې تیر شو
لا مې دښمن دی د ذلت په اُمید
هر څه مې بایلل د صباد پاره
دوزخ قبول شو د جنت په اُمید
تش وعدو ډیر نا اُمیده کړمه
یم د وعدو د صداقت په اُمید
رنځور حالت به مې تر څو کلوی
یم د جوړوالی د نعمت په اُمید
خدایه ژر تیری کړې رنځوری ورځې
د محمد د شفاعت په اُمید

# دوصال خیال

ځوکلوی می دیار مینه چاته داد کړم
په کم دول به حاصل د زړګی مراد کړم

په خیالوکی د جانان د وصال پایم
که داهم نوی په څه شی زړګی ښاد کړم

آشنا نسته تنها مینیی را پاته
سرشکومه شپه اوورځ داد فریاد کړم

څوک می غوږ پرکړ، ونه ایږدی کانه سوه
نه پوهیږم چی حال چاته پیشنهاد کړم

لولپه سم سره لمبه سم په فرقت کے
دوصال دشپی حالونه چی رایاد کړم

زما په مرګ که یی یو څه خوښی زیاتیږی
په خپل مرګ به زه دیار خوښی ایزاد کړم

زه دی ومرم خو جانان دی په خنداسی
په دی توګه به خپل لنډ د ژوند میعاد کړم

که په آه سره د خولی څوک آباد یږی
زه ریښا به په خپل آه جهان آباد کړم

# بې امامه جماعت

چې مسجد وي مقتديان وي امام نه وي
چې رکوع وي سجده وي قيام نه وي

په کاره مغزي چې ګرزي سکه و روبه
جهالت دی چې رو غبرا و سلام نه وي

دا کورنه دي چې يوائې کلکينان وي
يا يوائې دري ديوال وي بام نه وي

تش ستر خوان چې د چا مخ لره هوار سي
نه مړېږي تر هغو چې طعام نه وي

که پراته وه د بابا په کنډواله کې
جوړېده د نوي کور ته اقدام نه وې

چې کارونه هر ځای پاته وي نيمګړي
څوک يې څه کړي چې پوره اختتام نه وې

که درواغ وي دوعد و خلاف ورزي
کړت به هسې جامعه کې نيکنام نه وي

درپو او د مقام پايښت څو ورځې
پاچهي لاهر پاچاته مدام نه وي

مدام ګډ بل جوال ته چې وي سترګې
کومکونه د پردو با دوام نه وي

منافع چې وي د عامو پکښې نغښتې
تر دې غوره ډېر بهتره نظام نه وي

په هر ځای کې چې کاروته زمينه وه
هلته هيڅ وخت د نعماتو تمام نه وي

چې د مرګ پر لور روي هغه غوره نده
پېشرفت ته د نړۍ که يې پام نه وي

# پروني اونۍ شعرونه

نه سپوږمۍ د آسمان ناوې . نه يې ستورې قنديلان دي
ستورې پټ سوله په خړو سکو . د سپوږمۍ پر مخ دردان دي
نه ښکارېږي سپين بشرۍ . دې په سپين کفن کې نغښتې
آهوچشمه پټې سترگې . نارنجي يې بارخوگان دي
نه سرې شنډې جام د ميو . نه شين خال پر تندي باندې
شنډان تور لکه سکاره سوه لە تندې وينې بهاندې
نه شور کې د آب شار وسته . نه وږمې د سهار ستايم
سوې ولې د وينو ډکې . د وروستو غوښو بويان دي
که پوښکي د چنارو وو . که آوازو و د بلبلو
د بې وزلو غلبلې سوې . آوازونه ټوله ساندې
زړونه سخت سوه تر ډبره . قصاوت او بېرحمي سوه
خلك گورې هيښنې سترگې . په خپل ځان پورې حيران دي

شین چمن مو هـدیری سوی . شکوفی و رژیـدلی
هیڅ بنایست د گلونسته . باغ وان نه لری خزان دی

ژوندون واړه درد غم دی . بی فریاده بل څه نسته
دقلم په ژبه ځکه د ریشا اشعار چالان دی

# دمزله خوبیان

ولاړی قافلی چې له هغو څخه ترشا نسی
پورته سه د خوبه ترشا پاته پر بېد یانسی

لیری کړه بېرستن دی د چل ځایه حرکت وکړه
ژر ځه وړاندی مخ ته په تدبیر چې وار خطا نسی

وینن سه را ولاړ سه وخت د خوب او د غفلت نه دے
شاوخوا نه ګوره پام کوه چې نابینا نسی

تو له عمر تیر دی په غفلت بې پروایی کی سو
نن باید وحال او آینده ته بې پروا نسی

بیا به ارمان و نه کړی کاروان به د رڅه تللی وي
سوچ درته پکار دی د کاروان څخه جلا نسی

نن د قافلی د لمړی توب څه پاته سوي یي
ځان دی کړه ورمخ ته چې د شاوخواته را نسی

هرځای په مزله کی دپښتو پاته وګړان لتهان
ته پدی سفرکی هوښ کوه بی دست پا نسی

غواړم د جرس پشان چی ویښ کړم د مزله خوبیان
ته هم په سفرکی ریشاُ پاته تربل چانسی

# په لس ها وهره ورځ مری

افغانان واړه دد ی خاوری زامن دی خو دمور په غیږ کی یو د بـله خوری
داخوړکی یی په آخر کی تبـاهی ده هیڅ امید پکښی کی نسته د بـری
دژوندون دپاره هیڅ کاریی و نکړ په سوو کسان په هره ورځ کی مری
هرچا ځان لره بل کړی دی اوروڼه پخوا یو ځای به ر اټول وه پر نغری
په د مخه کی ډیر تینګ ملی وحدت وو بیګانه اوس جوړوی د نفاق سری
اختیارات دافغانو د خپل ځان دی دښمن غواړی دوی وندر کړی لکه ورځی
دمیدان فولونه ځکه دمره ډیر سوه چی هیڅ ټیم په میانځ کی نه لری ریفری
داولاد او آینده غم یی ونه خوړ دور ورسر خوری دوی فقط لکه مصری

که یو ځای د خپل ځان په غم کی ډوب وو
ریښا غواړه د هغو خخه دوری

# د زړه خوږ

شوخ کتل یې عادت اَ د مرګ پیغام دی
ما د مړو کتو اخستی بل الهام دی

صبر، صبر که کوم حال بتر یږی
نې صبري بیاد تا جدار ترخ قیام دی

زما د خوږ زړګی دارو قاصد راته وړه
زما درنځ دارو دیار د لبو جام دی

غمازان زموږ یارانی ته په غوصه دی
و فراق ته یې ستړلی مدام لام دی

رقیبانو د خپل یاره بیګانه کړم
که نه یار خو قبلونکی د سلام دی

درد مندان می ملامت نه بولی خلګو
د بی دردو په نزد هر عاشق بدنام دی

وبی دردته دعشق دردخه معلومیږی
ولی عقل یې دعشق په کار کی خام دی

خوږ د زړه لری ریشا چی بستری دی
چه پوښتنی ته څوك راسی وای زکام دی

# تاراج

چی یې کبنیبنودی پرسر د شاهی تاج
هغه دم سوه عاشقان چور و تاراج

رقیبانو می خوږ یار له ما جلا کړی
که نه کله وو د یار هسی مزاج

دور تنگ دروازی زما پرمخ تړلی
چي دیار ومخ ته وکړم احتجاج

هغه وخت به په دیدن دجانان موړ سم
که له دره غمازان سوله اخراج

څو يې پوست دغمازانو نه وي کښلی
جوړې کړي يې تسمې نه وي سراج

تر هغو پوري به ګرزم په بیابان کي
په هستی کي به یم بل چاته احتیاج

که خوا رزه شربت دوصل حاصل نسي
دریشاد خوږ و نسته بل علاج

# اړتیا

افغانان هریو ځان ته وایی من
بل ته اړدی هم په ستن هم په کفن

نه یې تیل، نه یې ډوډی، نه یې دواسته
شا مه یخ ته دی پراته لغړبدن

ورته پاته ده هستي د نیکه گانو
اوس د بل پردیگدان گرزی مردزن

چې د ځان د چارو خت سی آرام کښیني
ورځ وشپه یې بیگانه ته دویدن

اجنبیان یې دی څوواره ځغلولي
مگر دوی پخپله دی مشت یخن

په سرویې رانیولی استقلال دی
خاماران یې ځني غواړي په تومن

هو ښځه رزه کلن تاریخ یې پروت دی
خو ترا وسه یې جوړ نکې خپل وطن
ریښتیا من نه غواړي خورد عقل غواړي
چې یې ژر سي و مقصد ته رسیدن

# نامیدی

تو له عمره مې تیر یږي په ناورین — د ناخوالو بد بختیو مې زړه شین
همیشه د مصایبو راته مخ وي — زما پر صبر تحمل صد آفرین
یو غم خوړه او زړه سوانده پیدا نسو — هر نوبت وي هغه آش هغه کاشین
بد حالات مې ورځ تر بله بتریږي — چاره سازه پیدا نسو زما مسکین
د علاج دارو مې نه دی پیدا سوی — د امید په دارو گانو کړم تسکین
غور نسته څه بې غوره زمانه ده — بل ته تریخ ژوند خوښو ځان ته شیرین
نن د مرگ پر بستر پروت یم بې طبیبه — آینده ته ریښتیا څنگه سي خوشبین

# پریامه تکیه

زه دافغانانو ارتقاء غواړم　　واړه احتیاجات یې خاخاغواړم
زه داولس تر میانځ ملي وحدت　　ټینګه وروورګلوي صدق صفا غواړم
سوله امنیت دې وي وروروړې دې وي　　هر کار یې دټولو په سلا غواړم
عدل. عدالت غواړم انصاف غواړم　　ټول حقوق ملي د هرچا غواړم
غواړم چې دبل ولاس ته اړنه یو　　خپل دلاس خواړه کور وغذا غواړم
نوره پرتوپک باندې تکیه عبث　　پس له دې پر یوم زه اتکاء غواړم
داد اولس د زړو غوښتنې دي　　هر وخت هر عامل ته یې بریا غواړم

لوړ مقامات هم عین وعدې لري
زه ریښا د دې وعدو وفا غواړم

# ملل متحد

که ملل متحد ډېر ستر قوت وي — او مطلب یې نړۍ والو ته خدمت وي
کلک پابنده همېشه د خپل تصمیم وې — هر تصمیم یې د بشریې منفعت وي
زموږ د ورنج لړه یې اوښکې کافي نده — که رشتیا یې د نامه پشان طاقت وې
اوکه وي دا مؤسسه د څو کسانو — هر پرېکړه یې د بل په مصلحت وي
نړیوال به نو آخر لاس ځنې منځي — دې لویانو ته به پاتې خجالت وي
موږ سو ځېږ وشپه وورځ د جنګ په اور — زموږ ژوندون د دوی له غمړ و په زحمت وې
که افغان یې له دې اوره بهر نکړ — نو راکښېنسته به یې لوړ نوم حیثت وي
باید هېڅ ملت پر لو لارا یله نکړي — خصوصاً چې ډېر محتاجه هر ملت وې
داخلي نده موضوع د افغانانو — د پردي تر شا پردې مداخلت وې

ځنډول یې د لویانو بدنامي ده
خلاصول غواړه هر څوک چې ملامت وې

# د زوزانو بستر

که حیا له ځانه ولاړه ځني تښتــه	د بې شرمه څه مې کړ که کېږي زښته
سم سړي د ښو اعمالو معلومېږي	دیوال کوږ وي چې کږه یې کښېږدے خښته
سړیتوب په قیمتي چوخو کې نه وي	سړیتوب دے د اخلاقو دار زښتــه
پر ښرنه ځمکه تخم نه شین کېږي	څوك به وانه خلي حاصل له دغه کښته
په هر رنګ جامې چې اغوندے پوهېږم	اندازه یې را معلومه ده د سکښته
انسانان په انساني خویو درنېږي	نه غوایي غوندې د خیټي له درښته
تغافل یې دو عدو خلاف ورزي ده	سوم پوه بیا حاجت نشته د نوښته
د درد و چاره مې هیڅ طبیب ونکړه	علاج نه دی پر بستر له درده لغښته

دریشا خوب دے د سره څخه تـــللی
د زوزانو پر بستر پروت بې بالښتـه

# د خرو سپاره

چه د کور ساتندویان موکورته غله سوه
پدری کفن کښان موتور لیمه سوه

د هرچا په سرکی ټک دی د ناخوالو
هر څه ګډوډ سوه چه د سرماغزه سوه

منطق نسته عدالت د کوره ووت
د ظلمونو خلګ ځوړند په ویښته سوه

ملګری د حقیقی مسلمان پاته
یو د بله د فساد په لارکی مله سوه

په وینا وحق پرست پاك مسلمان وی
د بل حق ته د لیوانو په شان سره سوه

په اصلی بڼه و هرچاته ښکاریږی
په بازارکی چی پرخره باندی سپاره سوه

کوروکلي خپل وطن سوځنی پا ته
دجلاد چاړه چي بیا ورته تیره سوه

ریښا مه وهه عبث خپل دُرد سنګه
نن محلد د صرافانو څه سپیره سوه

# دبل په فرمان

په رښتو سترګو ګانه کړو لیدای نسو
ړانده نه یو له ډیر شرمه کتای نسو

په خپل قوم مو دکی کړی هدیری دی
نور قبرونه ځان ته کینو وتای نسو

په نړی کی په شرمو وشرمیدلو
اینده په په تاریخ خود نمای نسو

نا پوهی ده چی خپل کور په اورکی سوځو
جهالت کی به مالك د خپل سرای نسو

که مو خپلی شتمنی خوشی بـــازلی
بیا به بل ځل په ټول عمر بدای نسو

دلته هلته که دبل په فرمان او سو
نو به هیڅ وخت صاحبان د خپل ځای نسو

څه پام وکی افغانانو محوه کیږی
که تیر یوته نن تکی د پـــای نسو

مخ ته ګوره ریشا کندی ته ورلویږی
هغه وخت به بیا له کندی ورتای نسو

## دخټ ګـــريدل

ورځ بيهوده په غريدو تيريږي
شپه د ژړا په اوريـدو تيريږي
عمر د بل د بوريدو د پــاره
د بل په ناز پـه بـوريدو تيريږي
ځان موهير کړيدی د ناز خوږچې مو
ترکندهار ترا پـريدو تيريږي
په رموګډ سوه بی زړ سری قصابان
صحنې د نس په خريدو تيريږي
د غم لښکری زماو خ تـه راځي
خوښی دخټ په ګـــريدو تيريږي
دزړه خواله لـره ملګـــري نشـته
ياران دلاس په ښوريدو تيريږي
د طغيانی درياب لـه تـــلـه ښخه
خونی ځپي پــه خپريدو تيريږي
درېشأ خوار تخنه خوښی تـللی ده
وروستی شپـې په خوريدو تيريږي

# غټ بوس

په ظاهره چې وي غټ ما بين بوس — راغوړ اړېږي که هر څونه وي پنډوس
چې پر سر د انسانو تجارت کړي — شرافت يې وي خرڅ کړي به فلوس
که د پاسه د مردار لاښ په تلاښ وو — هسې کاردي د کارګه يا د تپوس
د بادار پر ځاې چې پښې د نوکر پچ کړي — تر دا هسې سړي نشته بل چاپلوس
چاته شل ګونې اوړه تل ذخيره وي — څوك په كوركې نه لري ګوله سبوس
د مريض علاج ګولي كپسول دارو دي — نه رغيږي په ګوليو د كار طوس
چې مرض پر بدو واو بنت بې فايدې — هر دارو هره نسخه د جالينوس
لوغو غاسي په مظلومو خللګو ګډه — چې ښكاره سي د ظالم تورمخ منحوس
په پټ مخ سره يې مخ ته تيريدمه — زما د عشق د زړه ضرباني كړې محسوس

ريښا خوار د ژوند نا خوالو راګردي كړ
اوس بيخي د زندګي څه دي مايوس

# پر ملاخم

ولی نه یم د سیالانو سره سم — معلومیږی چی د ښمن کړی د چم
ما د بل په کار کی دخل ندی کړی — خبر نه یم چی پر څه یمه متهم
جوړوم بل ته مانی پنځه پو ریزه — ماد پلار کنډ غالی کړی درهم برهم
خپل می هیر دی مناقب د پردو وایم — په توصیف سی ژبه وچه د قلم
ورور ته جگه غاړه نیسم مگر بل ته — یم له ډیره احترامه پر ملاخم
گډوډی می ده د ژوند سره ملگری — ورځنی کار ځکه ندی منظم
زما درنځ طبیبان واړه سوداگر سو — د علاج می نه ږ الت رسته نه مرهم

نور هر څوك د عدالت ترمخ بری سوه
خواره ببنکی ریشاسو په هر چاگرم

# ونګه ونګه

بل مې پاروي وروړته په جنګ سره
موږ نابودوي په هر نيرنګ سره

يو افغان يې څو ځايه ويشلی دی
هر يو يې رنګ کړی په بل رنګ سره

ساندې دې بغاري سوی کړېږی دی
وړکې په زانګو کې په غور ځنګ سره

ګوري مور و پلار ته ژبه نلري
داسې ورته وايي په ونګ، ونګ سره

داهيواد نيکو درته سپارلی دی
وی ساتي ترموږ پورې په ننګ سره

مه پريږدی وموږ ته آينده بدی
يو سې متحد سې په درد نګ سره

ستاسې په يوالي کښې بقاده زموږ
واياست دوروري آهنګ په شرنګ سره

ماته د ماشوم پرحال ژړا راغله
زړه دريشا و سو په سوځنګ سره

# د بل ترګټو جار

چي د ژوند د ښو ښاديو طلبګار سوم
پسي ولاړم د پر د و سره بېګار سوم
ماويل زه به خپل تېرته ګټي را وړم
ګټه دوي نسوم د بل تر ګټو جار سوم
دور ورغو بني مي اولاد ته نفقه کړي
صد افسوس چي د جلاد پښان خونکار سوم
په دوستي کي يې ووځاه راته کينډلي
لوړ کتل مي نابوبره پکښي غوزار سوم
خوراك نسته د زړه وينې مي خوړك دي
ورځ تر بله بتر پير يږم تار و نار سوم
ښو تر ښو به ورزي پروت يم په ارهڼ کي
ډېر کلونه په امېد په انتظار سوم
اوس امېد په نا ميدي سره بدل سو
زه ريښا د زندګي ځنه بېزار سوم

# د شنوختې ډک زړه

زړه د شنوختې څخه ډک　　　کلچ پرُوت لاندې تر تلتک
د تلتک تر چولو ګورم　　　خلک مخ ته ځي چټک
زه د بل چا په فرمان یم　　　بل را کړي د توپک
د تصمیم واک مې د بل دی　　　حیران ګورمه هک پک
موړ په خپله ګوله نه یم　　　د پره دو غواړم کومک
دا ن څه کاني را وسوي　　　دا څه چارې د فلک
په لوړ ارز به ارزیدمه　　　اوس خر خیږمه په کک
د ریشا د زړه پر زخم
هر ګړي لوېږي نمک

# دنفاق تخم

په لمړي سر کې اولس کړه سره بیل ورسته، ورسته يې تقسيم کړه خيل پر خيل
دنفاق تخمونه وشنده په دوی کې بيايې ورورسته چل مقصد ته کړه ورګيل
حکومت کول به ډېر هلته آسان وي چې د لوقومو تر ميانځ وي تيل ما تيل
ن ددې پاليسي اصل تطبيقيږي چې نه کورسته، نه ډوډۍ نه لږ وتيل
افغانان که پرجلا لارو روان وه ودښمن ته خوشحالې ودوی ته جيل
بې يو والي وافغان ته امان نشته ځوك به نکړي ديووالي قوت ايل
مارېشا بله نسخه هيڅ پيدا نکړه
که هر ځوې کړي جهان پسې غلبيل

# دنفاق امبور

یا به دا هیواد په سرو وینو ګ سور
هر ضعیف به د قوت خاوند کړي چور

تور پړوني به پر سر وي د تور سرو
کور و کلي به پر خلګو وي تنور

سوی کړېږي غلبلي به وي په ګډي
ترکوڅي به کښوي د موره لور

بې توپك خخه به بله ژبه نه وي
سکه ورونه به اخته وي په فتور

یا به ټوله د ملي وحدت د پاره
دنفاق ریښي راکاږي په امبور

او ملي وحدت به هم په صداقت وي
صرف خوښي د هر افغان به وي منظور

هغه وخت به ریښا او وایي بیشکه
افغانان او س ترقي کوي ضرور

# نوری بلاوی

څورلس کاله دافغان وینې سوی توی
دبنت وبنار نیولی دی دغوښنو بوی

سوی کړزی دی په هرکاله کی ګڼی
پر مرګی دلور، وخور، دپلار ورو ری

قتل عام تېر داکلونه واری کیږی
چاونه ماآ دخدای د کلام روی

انسانان دی دخپل ورور دوینو تږی
کله وی دانسانانو هسی خوی

هسی دیر قصی القلب جلاد صفته
دورورمرګ بولی فقط لکه د سوی

ترنن پوری ددی تولو بدبختیو
هیڅ څوك نسوه دی وژلو مرستندوی

دارایی دکورهستی یی واړه چورکړه
هغوچورکړه چی ددوی وساتندوی

پر ریشاچی څه تیرسوی دی خوتیرسوه
ګوره څه بلاوی ستالاپیشروی

# مشترک تصمیم

اعوذ باالله من الشیطان الرجیم　　　حق تعالیٰ چې ساتندوی وی نستعیم
چې خدمت د خلق الله په صداقت کړے　　　هغه نه وی پرا عمالو خپل ندیم
پر خپل سر آبادی نه راځي وطن ته　　　شو د ټولو مشترک نه وی تصمیم
مشران چې هر ملت ته ټاکي ځان ته　　　هلته چاری د دولت وښه تنظیم
مملکت د څو کسانو میراث نه دی　　　یکښې واړه او سپیدونکې د تسهیم
هیواد یو دی. ملت یو دے. یو دولت دے　　　باید نسی پر یو څو حصو تقسیم
هر سړی فرداً، فرداً مسئول دے ټولته　　　د فردا مسئولیت ترڼن عظیم
خپل وطن آبادول پر وطن والو　　　دی لازم چې نیمګړتیا وی کړی ترمیم

ریښتیا ته هم خپله ونډه کړه ترسره
کړلی د خلګو درد عقل سلیم

# نیکو کاران

صداقت چې وي د چا د ژوند اساس
نیکوکار سړی لري د هر چا پاس

نه کاذب وي، نه خاین، نه خودپرسته
وي پوښلی داخلاقو په لباس

زړسواندی لري د خلکو خدمتګار
مستقیم ځي پر دغه خوابی هراس

حق حاکم بولي د هیڅ چا پروا نکړي
د بدیو ده ته نه لویږي وسواس

خپل پردی ته په یوه سترګه کاته کړي
ضعیفان ترلاسو نیسي خیرالناس

په کمخواب او په اطلس نه ښایسته کیږي
ښایسته توب دی د نیکیو په کرباس

جامعه کي هسي خلک تل کمتر وي
په ټول عمر به ونه ویني افلاس

هسي خلک پر ملت باندي دي ګران دي هر سړی یې کښېنوي پر چوکی پاس

دریښا په ژوندکي دغه آرزو ده چي نصیب یې د نیکانو وي اجلاس

## دوطرفه چال

داخاکی کره پرماداورکوره
سوځوی می دشمزی هره موږ

خلګو لی لیونی او به چپنلی
ګوره کم ګوره ورکړی ده توره

چې خپل ورورپه زړه زخمی یایی کباب کړي
پر زخمو یې دوړوی نمك شوره

خدای دی داسی مشران چالدورنکړي
چې یوه خوادژوندنه وی په پوره

داسطرنج له دوی څه څوك نسي ګټلی
چي د دوارو خواوو چال کړي په موره

څه ګناه لرمه ای عدالت خواهو
مسلمان یم نه کافر یم نه ګوره

چي شیرین ژوند دی په ماپور تریخ کړی
ته مستوته لاور اچوي بوره

په او مه شعر کی کله شیریني وی
در یشا شعر تر اوسه دی غوره

# دگیدړی لکی

ورکوی وعدی هرچاته غوړی غوړے
بیا پرلاری اچولی یی کرووړے
که پیدا د ترقی فکر سوچاته
وهغوته پیدا کیږی ډیری اړی
مرگ، اوږوبلی. چورتالاته اجازه ده
ورته خلاصی شاوخوادی ټوله تړی
چی له تاپی هرڅه یووړه لویه لاره
په خوله ورکی درته گوری ژړے ژړے
حماقت دی چی څوك بل ته قربانسی
بیایی ورسته پرقبروکښیږدی لکړی
هوښیاران باید په چل اوفریب تیرنه وړے
په لکی یی خطانه وزی دگیدړی
دښمن نه غواړی ریښاچی ته لوړ او سے
لاپرسردی اوروی داورسنگړی

# خوشمړی

ولي هره ورځ پيدا دي نوي شخړي
پرناحقه ولي کيږي د ونه مړي

که غزا وه خو پر کفر غلبه سوه
اوس پر څه دي غاړي شني کالي ګډ ېږي

بيا پر څه شي او سني ورستني جنګ دې
آيا څوک لس کاله نه يو د جنګ ستړي

پرون ټول ه و اسلام ته جنګيدلو
سره يو وه د نبي د امت غړي

بندي غاړي تر ملته پوري پريو
سر به څرنګه راوباسو تر پړي

د ملت رضا خوبني او خوشحالي ده
هسي نه چي لګوي په مخ خپړي

بل علت د نور جنګو د پاره نسته
یا چوکی ده یا خوشمېری دی خوشې

د رحمت څلاند لمر پر وطن خپور کړه
پاک رب ځني واخله توري تیږي

## د چوټي زندی

څنځیر پیچ یم په څنځیرکی د کوځیو
راته پیښه ده خپلوبی با کیو

کښوی می د وری هیسته مابی واکه
یم تږلی د ببښتانو به رسیو

علم پوهه هستی واړه پر دو یوړه
سوم دال فقیر په درکی د پردیو

ودیدن تږبی خورا دیر ترسیدمه
په آخرکی سوم صاحب د دیدنیو

چې مې سرستاپه درگاه کې نذرانه دی
څه حاجت دی بیا دنورو سرد ردیو

ځوانی نسته شادابی راځځه ولاړه
نه راځې خازه گلان بیا پر غوږ تیر

خوارکی ریښا پردی وخت دزړ سوی دے
مرگ ته ځې دچوټی گانو په زنـــدیو

## خیر نه ګډېږي

لویه خدایه ستا پردي پراخه نړۍ
زما وغاړي ته لوېدله ده کړۍ

څه ګناه لرم چې پروت یم په زندان کې
په لاسو کې اتکړۍ پښو کې بېړۍ

ژوند مې واړه مأیوسي سرګرداني ده
نور مې هم لاځو کلوي هره ګړۍ

یخ کلچه کړم پر شګلنه ځمکه پروت یم
نه مې ستړه، نه لرګي ستره نه شړۍ

زماني د خپله ځانه یم شړلی
وظالم ته بزدي خالونه بزدي دي

طبیب نشته چې پر زخم مرهم کښېږدي
دوکتورین مې اوروي پر سر تروږي

ځکه تول راته دریاب د ه. خوبي آبه
دخطر څپواخستي ده بېړۍ

عُمر واړه په امید را باندي تیر سو
درېشاؤ هغه خیر نه ګډېږي

# رشوت خورته

که هر څو مي کړه وتاته نوشته
ودي نه کښنله توبه پر گذشته

د حلالو د حرامو توپير نکړي
په مرداره دي فاميل کړې آغشته

گير به نسي په ټول عُمر سره ځکه
سره نغښتي تا او ده ښينگه رشته

په سوکه، سوکه دي ټول بيت المال يوړې
په خارج کې دې کړې ځان ته امباشته

خپل اولاد دي په مردار و غوښو موړ کړي
د غريب اولاد دي پريښود نيم کشته

د بي وزلي مخ د لوږي څخه وچ سو
خو ستا زيره په کريمانو ده خيشته

دا اولس به دي آخر تر ستوني نيسي
ټکوي به دي پر سر، سر په ميشته

د وجدان و قضاوت ته اوس يي پاته
عدالت دي وروسته کاندې سرشته

د ريشا شكايتونه څه فايده كړي
چي خورك د رشوت خوروي د رويشته

کندهار

د قوس ۱۰ ۱۳۴۲

# سیاست

د رواغان خلاف ورزی خطا ایستل دی سیاست
په دوستی کی دښمنی او تیرا ایستل دی سیاست

هم غمخور . هم بشر دوسته ځان په مکر نمایان کړی
د بی وزلو پر حالت باندی ژړل دی سیاست

د غذا او دوا مفت کومکونه یو طرف ته
بل طرف د سرو مرمیو اورول دی سیاست

آزادی دیموکراسی هم د قلم هم د بیان سته
بیا د غه رنګه د خلاصو خولو ګنډل دی سیاست

خپل اصلی بڼه کی پټه د انظارو څخه د خلګو
په تغیر لباس د ځان ښکاره کول دی سیاست

تجارت دی رانیول او خرڅول دی سیاست
د ډالرو د کلدارو ټولول دی سیاست

په هر ډول چی مقصد لاس ته درځی ډډه ونکړی
په هر قسم د قسمو خپله کول دی سیاست

مګر بر خلاف اصیل سیاست ګټه د اولس ده
د اولس په درد غم کی ګډیدل دی سیاست

# زوړ موټر
# نوی ډریور

بې بریکه غورازه پتلیس مُوټر
پر جلو باندې یې ناست نوی ډریوړ

ځي پر لوړه پورته کېږي کمزورے
توری خړه وسکي دود یې ځي تر سلنسر

ځي پر لوړه ختای نسي زور یې وخوت
که هر څونه کړي د باو اکسلیټر

پر شوه شانته راځي او سرعت اخلې
ډنډه پنچ سو بې فایدې د کلینر

مګر بیا یې هم شله ناقص ډریور دے
پر دې حال هم خپل ځان بولي زوړور

د سپرلیو په زړه یو الله خبر دی
ژوند بد لیږي په مرګي د مسافر

په باډي کې د سپرلیو کړکچ دی
خو غوږ نه نیسي ډریور یې پر خبر

یو امید سته چې یو پوست پاڼې تکیه کړي
دا نو چانس دی زکندن چې سی اختر

بې بریکه غورازه پتلیس مُوټر کې
ډیر بدبخت به وي د دې بس پاسنجر

که چانس الله دې موټره سالم ووت
پر ریښاده چې خیرات کاندې سخوندر

# پتاغ

زړه مې څکه دړوندونه څخه تنګ دی
اوریدلی مې نن بیاد خطر زنګ دی

تر نظر مې شنه باغونه تور سکاره سو
زړه داور سکروټه سو لاپه سوځنګ دے

نه په اوښکو نه په آه سره سړیږی
دوتو کابویي نسته په غور ځنګ دی

شاوخوا کی یوز ړسوانده پیدا نسو
پر مرغومې مهربان کله پلنګ دی

په پتاغ په مانورو سوم زیرخانی ته
په دی کار کی مې دښمن زښته زرنګ دے

دانسان په ستر ګو څوك نه راتد ګوری
دی انسان ته عقل فکر تللی منګ دی

ګوره څه شي به لانور ورته پیښیږي
اوس ریشاد زیرخانی پرخوله ملنګ دے

# بی تأثیره پوخ تعویذ

پر فریاد می ولی څوك نه نیسی غوږ
آیا نه مرم د نیسی یخنی څه سبز

مره ژوندی پیران می تول وننگوله
بی تأثیره پوخ تعویذ معهود د روږ

دیوی دوړه ی قیمت ترسلو جگ سو
هرما بنام غرمه رانیسم پنځه شپږ

شنوا غوږ نسته چی ناری کړم هغو ته
په کوړو کی خامخا وی د مرگ غږ

د نیست منو دهست منو شکایت دے
دنادار او د دارا په کور کی ږ و ږ

هرڅه ولاړه د حلالو څخه خلاص سوم
اوس وبل ته حلالیږم لکه مږ

ریښا څنگه په دی حال کی آرام اوسی
چی وی گډه واویلا په څوان و گبږ

# ماخائن پیژندلی دی

ډیراسانه چپه کیږی وچه درخته — لویول د نونهال وی خوراسخته
هغه پاس دی چی د هیڅ ورهنی نده — د مړو سیالی کوه نیږی د بخته
په ژوندو کی ئی هیڅ قدرورنکړ — پس له مرګه یی پرسر دروشخته
وخت د ج. یاد لمانځه. روژ معلوم د — فرض کله اداکیږی بی له وخته
پاچهان که تخت وتاج لری سپاهم — خامخارا شوه کیږی به له تخته
هرسړی په خپل عمل پیژندل کیږی — ماخاین دی پیژلی لادوخته
که یی اوس کورپه سوچ سره تودیږ — بیابه بل وخت ترسهاره پرووی تخته

بختوردی چی د خلکو خدمتګارو
پریشابد بخته اوس دے ډیرناوخته

# اختر

سړو ماته مه راځئ په لوی اختر          پرکورونه یم نه توشک سته نه تغر

همسایه می کوراشغال کړی سربخود          زما توری یی کوترم کړه پربهر

زه پرډډایی ډاګ کی پروت حق حیران یم          لوڼه وزوی گرزی پرکلی درپدر

نه بگړی سته نه موچنی نه پړونی          نه زاړه نه موښوولی نه بهتر

داختر نقل کلچی دچاپیاد دے          جیب خالی دی څه مونه لری پدر

اختروند دهغو دی چی پرکوردی          دیگ یی پوخ وی او په جیب کے یی ډالر

چی لری برند کالی نوی لنگیانی          بی نکریځوی لاسونه وی احمر

ماته مه وایاست اختردی مبارک سه          له ماوپوښتنی دردونه دځگر

زما په شان دغمزده اختر به څه وی          چی خپل کورته ورتلای نسی پرگذر

ماته مه راځی ماپریږدی په غموکی          چی تنها پروت یم دشگوپربستر

ناجوړی زوی می دلوږی په بغارو          هرگړی دی ورته پیښی دمرگ خطر

زموږ په کورکی دشکنی دیگلی لانسته          دکباب بویان دی پورته لروبر

دحراموا ضحی حلالوی دوی    بیا د خدایه عوض غواړې په محشر
داختر واجب تکبیر وی ځنی پاته    دانسان پر مرګ وای الله اکبر
ماته مه وایاست تبریک سږ په اختر    ځکه زموږ په کورکی دی غم دپسر
هغه وخت به روغبړ و نه تبریکی وې    په هیواد کی چی خطر نه وی دسر
ریښتنی خوشحالی غمجن اختر دی
ولی تو له خلک دی خون جګر

# څه به راوړي

مورمو شپې سبا کوي ترلوی سهاره ـ ورځ کړي تیره د راتګ له انتظاره
ډیر فراق د خپل اولاد زغملی نسي ـ وبیریږه د زخمي زړه د آزاره
باخبر اچې ستا سي ښار هغه ښارنه ـ کلي ګروپ دی سړکان لکه شدیاره
هیوادواړه هدیری دی کنډوالې د ـ د قبر و خنډه په ویښوده ګلناره
غلبلي دی سوی کرزی دی بلغاکې ـ ډېرین زړه وال لاو باسي کوکاره
باغ سکاره سوانسانان پکښې کباب سوه ـ راسي وګوري چې څوک دي ګنهکاره
که ګړوب سوی وطن ګوري یو وارګورې ـ ښي زهیر کړي یوځل تر خپل دیاره
په راتلوکي به ته څه در سره راوړې ـ کارآمد به وی که خوشي نابکاره
آیا ته به د غرب وړ راوړی ومو بته ـ که سوچه افغانیت به وی نامداره
ته به راوړي د مایکل جکسن فلمونه ـ که د ځان د آرایش لو یه هنداره
د عصري مود فیشن سنګاري بکس ـ که سامان د نړیدلي کور د پاره
خپله ژبه . به دی هیره که پیادوی ـ که به یې د مورنی ژبي بیزاره
بیا ته ډکي پیالي اخلي تشوي یې ـ یاد خوکاسي وړی براد رواره

بیا به هم شب نشینی وے د سکور قص — پر میز و به هر شه غواړی پر تیاره

که مطلب دی دراتګ دلته هوس وے — بیا هغه ځای درته بنه بولم نسماره

او که غواړی کنډ والی دے کړی آبادی — نور ادر و مه د بی و زلو خدمتګاره

د هیواد خدمتګاران بولو وطن ته — پردی سخت وخت یو کومک ته امیدواره

په ریشا غریب کی نورو س توان نسته

بی دعا او دغه څو بیته اشعاره

# دعصر تابلو

| | |
|---|---|
| پرچوکاټ یې سکلیږي نه اوهډوکي | په مابین کې د سروغوښو ټوټوکې |
| د سروکوپړي دي هم پکښې کاسوي | دکوڅې ویښتان پراته دي ټوکې ټوکې |
| کلې لغړې لاس وپښې جلا پرتې دي | دونډې پښان دي غوښې نوکې نوکې |
| لړمونونه راوتلي د نســو دي | چاکولمې خپلې پیچلې په پټو کې |
| ځوک په وینوکې پراته دې ساختلي | خورومورې وایي ساندې وهي کوکې |
| د سرو وینوتالابونه لیدل کېږي | دوچیتیا ژړبدن اچوي خوړکي |
| توري خړوسکې شنه دودان راپورته سوي | دسکروټوباران وسوځل زړوکې |
| نارینه یې قتل گاه ته بیول کېږي | مورپه خونه کې خوړېته په پستوکې |
| لوردبامه ځان رااچوي کوڅې ته | دمورغېږې ته ځان اچوي وړوکې |
| دادعصردوحشت غټه تابلوده | په لیدویې د بیناسترگې سي چوکې |
| لوی ساحردغه نقش ده طرحه کړې | چې یې دومرې تأثیرپروت دې په جادوکې |
| دماهرنقاش په لاس ده سازه سوې | دتشویق پرځای باید سي سوکې موکې |
| ملیارډونه ډالرونه پرمصرف سوه | بشردوست ته یې ارزش ندی دډوکې |
| دکرې له مخه دغطراح واخله | چې مرگې یې دکاله مینه جاروکې |
| هربادرده چې لیدلې داتابلوده | په غضب سره خبرې کوي روکې |

دیو ان مخ ته پر ته     دغه تا بلوڅ     مگر ندی په لیدو بې شرمندوکی
په دی باب کی قطعی فیصله نکړی     دوی ډبری ا چولی په کډوکی

په لیدو یی د زړه خوږ ریشا پیښ سو
هسی رنځ ته علاج نشته په دارو کی

# غافل شپانه

لوړمنزل وحیوانانو ته قفس دی      په غارو کې وي خوشحاله حیوانان
له باغچو څخه یې زور وي طبیلې ته      پر شندل استراحت کوي غوایان
ترسناروېي کنډوالې وي ډیرې خوښې      دغه خوی دغه خصلت لرې بمان
درمې ساتنه هر وخت په شپانوی      دغافل شپانه رمه خورې شرمښان
د انسان د وینو هلته لوړ قیمت دی      په رګونو کې چې ولړی جریان
نیږي وینې نیږي غوښې د ارزش دې      چې جلا، جلا پرتې وي پر میدان
ظاهري انسانیت انسان توب نه دې      انسان هغه چې افکار یې د انسان

نن نړۍ ده د وحشت پر خوا ورډیره
وریشأ خوار ته سو ژوند لکه زندان

# چوکی حمله که

که په ویښو یو هیواد آباد یـد لای
اوس به موږ لـره وای خاوره سره غوړځکه

په رشتیا که آزادی د دیموکراسی وای
ټوله خـلک راوتـله د تلـتکـه

که پښتون، تاجك، هزره چوکیانی غواړې
دا آواز هم پورته کـیږی دازبکـه

مشر توب لره هـرڅوك ټاکل کیدا سی
هسی نده چی په زور چوکی حمله که

ښوتر ښو به موږ د بل ولاس ته ګورو
مفتـ نه ورکوی څوك بـل ته نمکه

اسلحي او مشوری او کـومکونـه
داسی خوشی وړیا ندی بی درکـه

امیدو اودرواغانو راپساو کـړو
بله خوله د ر شـتیا نسته بی تـوپکه

چی ریسـا د توره بخته شـکایت کړی
خولوید لی یی پـرسـرده تـوره تکـه

# دغوبنو ګلان

او سنی شعرونه. نه دی ګلدستی
دبنا خلی پر سر پرتی غوبنی ورستی

دبنکلا توصیف می نه راځی پر ژبه
توله محوه دبنایبنت سولی هستی

خولی سوی منډی هیڅ خندانه نه جوړ یږي
شاعرنه ستایی خنداوی دپستی

وچی زامی سره لاسونه لایادیږی
دوچ خولی شنډی کلهوی پستی

دسالم عقل ځنبتن پر حقه لاړځی
ناسالم اوړی چپه ته دراستی

پراومړی تارنیولی یی لاسونه
لایی نه واچاوه ځان د درستی

لوکمبلی ته ګنی باید جاروورزی
چی یی تینګی دربنوی تانستی

دزخمی سره لازم احتیاط پکاردی
چی پر بنخه سلاخی وی تردستی

ریشاسپینه، سپینه وایی وهرچاته
یوه ورځ به دی وی سری شوله مستی

# تشې وعدې

وعدې هغه چې وفا ورباندې وسي　　هسې نه چې هیڅ عمل باندې ونسي
چې خبره یې خبروې هغه کس دې　　په ګرانښت کې د هر چا دسترګو کسې
که دچلې وعدې بلې خواته واوښت　　د هغو حیا په سترګو کې اوبه سي
پروعده چې نه دریږې دروغجن دې　　دروغجن سړي په مثل دې دسسي
که دسسو ښپاڼ او بڼ په دروغ بار سې　　دکاذب سړي وې وزن دغو مبسي
ریښتینګ دې پرخبره باندې اوسه
چې وعدې چا ته ورسکړې هسې خوسي

# د زمري زور

ومزله ته ژر رسيږي د آس سپور — هميشه وي د پښو پاته پياده ګور
ترسيالانو پاتيدل بې همتي ده — ځکه نه دي د هغو پښې درې څلور
هلته رنګارنګ ګلان شنه دي پرځکه — مګر زموږ مځکې دي تورې لکه سکور
هلته شنې ونې ولاړې طراوت دي — دلته شنې درختې سوځيږې لاپه اور
هلته ويرې د خندانه ډکې خولې دي — دلته غم دي د ژړا هر څوك نسکور
هلته هيڅ تشويش د مال و د ځان نشته — دلته مرګ دي امنيت نشته دکور
ولې هر څه هلته شته او موږ محروم يو — هلته ډير پيشرفت به وسي ترډې نور

ريښتانيسې رسيدای هغه هدف ته
چې په مخ کې دې وي خنډه د زمري زور

# تشې کلي

خوب مې نستېمه پلټنده دشپې
ورځ دمړو سره ځم تر هديرې

څوك لاس سره اخلي دسر په پرې کيدو کې
څوك ماغزه خوري تشې پاتـه سې کلي

چادپـلار دقبر شـگه بې ځاى نکړه
چادپـلارپر شنخته واخستې درنې

دسې مرغ مـرغه ماده بولمه کوتـه
نورې نکړې زړه لوغزه غواشيدې

طلايې هگې به زاغ کله ورنکړې
که په وخورې کبابونه يا کفـتې

لوگوله چې څوك يې نسې هضمولاې
لازم نده چې په ډکې وې کرمې

لوګولي لره هغو مره کومې بنايي
نه چې ژړيي کړي لحد لره نږدې

د ريښأ خورک شوله ده او پرده ده
لا يې هم پر ککرې کېږي نيښې

## سنګوټ

د بيلتون لمبو کړم ځای پرځای مکوټ
تناره په تل کې پروت يم لکه سخوټ

راست، چپ خورمه پر مخ د غم څپېرې
اولادو نه راته ژاړي په رنګوټ

پر ما باندی کری ورځ په ګـرورم تیریږی
د شپی پروت د بیری کنج کی یم سنګوړ

بیګانه وو می خپلوان راځـه پردی کړه
اشنایان چی پـر ما راسی مخ کـړی پټ

نامیدی کی امیدونه واړه غرق سـوه
د ښا دیوا مید پاتـه نسـو کـورټ

سرخ رویی په رنګ زردی سره بدل سوه
لکه مړی پرکټ پروت یمـه کـټ مټ

چی عاشق دیاردمخ آئینی تـه ګـوری
سی نیم جانه پوره نه وی روغ رمټ

زما خوا ر زه یاران سوه ورك پـه وطنو کی
ریشا ئیاتـه سو تنـهـا ګـروی څټ

# په اوبنکو غسل

جایز نده چې په اوبنکو غسل راکړی
یا می پس له مرګه خاوروته دعاکړی

پرپاتا می مه کښینی مه ولاړ یږی
که دوستان یاست په بنادکې می نڅاکړ

پس له مرګه چې هرڅونه مهربان یاست
خدای خبرچې دژوندونی پورادا کړی

ومیت ته دامام اجتماع څه د ے
له ژوندو څخه څه وګرزوی شاکړی

ماته مه بنیاست دغم صحنې پاتاوی
محفلونه رابنکاره ډك له خنداکړی

موږ غسلونه کړو دوینو په حمام کې
محتسب وایی چې زده مو استنجاکړی

دخوبنی په کارکی هرڅوسی مخکښنه
که په قول اوخبره د ریښا کړی

# هرزه وابنه

ړانده کله سی لیدای بنایست د ګلو
کاږه نسی او ریدای ریز د بلبلو

دګلانو سره هرڅوك لری مینه
زوزان نه دی دبل کاربیله سوځلو

په هرکښنت کی چی هرزه وابنه راشنه سی
له ریښنو څخه لایق دی د ریبلو

هرمرض لره جلا دوا د اکتر سته
دقوم رنځ کله جوړیږی په بد لو

پرکله چی یی د ژرندی پل خرخیږی
هسی حال وچاته نه دی د زغملو

نامحرم که تر دیوال سرکړی راپورته
بی پوښتنی هغه سردی د کوټلو

ستادشعر مشتریان ریشا پر لاردی
اوس یی نسته خریداردرانیولو

# رشتینی سران

خدایه دابه کم ساعت وی
محبت زړو کی پیدا سی
چی عقلونه سرته ورسی
اولسونه یو نظر سی

جهالت د مغزو وزے
عدالت پرچوکی کښینی
علمیت سی ورد ننه
دژوندون د لار رهبر سے

چی درزه خونه صفاسی
انسانی خصلت حاکم سی
تاریکه ورکه رڼا سی
آسوده ټوله بشر سی

نه غمونه نه غوصی وی
د زندیور سے پری وے
نه د جنګ تودی لمبی وی
مشران مود باور سے

دهغی ورځی په طمع
هوښیاران وی سره جمع
چه اسباب د جنګ سے منع
ورك د سر و مال خطر سے

داغوښتنې د بشر دی
دنړۍ د ښځو نر دی

کړې د غه خواست قبول سو
حال د هر چا به بهتر سي

نن انسان دی په ذلت کې
په خوارۍ په مصيبت کې

که سړان سوله رشتینی
نو ریښتا به گزوبر سي

## ترلی زنه

دسرو پرېکید و ته جوړی سوی بهانی
هجرت کی ښخوم خپلی مغزنی خزانی

داو ښکو ارتباط می لاتر او س پورې جار دې
لیږمه سلسلی داو ښکو یار ته در دانې

خوشبخت وه چې یلس یې قرائت پر زکندن سو
د هغو حال به څه وي چې پر کوټه ویرانی
په مایې د هندارود الانونه ځان ته جوړ کړه
پرمایئ ګروبې کړی. خپلې نمجنی زیرخانی
زه وږې پاته سوم ده واولاد ته ګردن بند کړې
دلاس یې راځه وایستی دګوتو زرداني
جنګ وسو. وطن وسو. څولوار څوك شهیدان سوه
بل جنګ ته سره اخلی دتش غره پرسرداني
مرګی درته راځي خونن سبایې معلوم نه دی
ترلې زنه کبنینه ریشاً وایه ترانی

# ورانی

تعمیر وران دی سړك وران د روغتون وران
مکتب وران، د بستان وران، پوهنتون وران

مؤسسې که دولتي دي که شخصي دي
ټوله ورانی، نظام وران دی قانون وران

ورانی هره ورځ تربله ورځ ډیریږي
په ورانی کې نن یو ډیر تر پرون وران

وافغان ته بد مرض دی ورلویدلی
په نفاق په جدایی په بیلتون وران

ظاهري ورانی هرڅوك په ستر گو وینی
چې ظاهر وران دی هغو مره درون وران

په خپل لاس مو تباهي ده راوستلې؟
که په بله اشاره د ملعون وران

هیڅ سړی یې د تأثیره خلاص نه دی
ترتاجک، ازبک . شیعه ، دی پښتون وران

هیواد وران ، اقتصاد وران . اتحاد وران سو
لا تر خود خود خواهی په جنون وران

وران، ویجاړ ، پاشلی حال چې ریشاوینی
خود به کاږی په وران فکر مضمون وران

# مندو بنــــا

چې کارونه اجراء کیږي په برچه — عدالت کې د غه کار دی ډېر کچه
غوړیدهٔ به بیا پر هغه باغ رانسي — که سکاره یې سولي درختي او تشا
د پیوند امُید یې مه کوه هیڅکله — که هنداره سي یو ځل پارچه پارچه
د هغه زوم او س د ناز و خترونه تېر (سوه) — چې به خوابنې و رلېږل ډکه خونچه
مندو بنا لا اخپل کارونه منظم کړه — د انسان څخه کار وران دی ترمورچه
حرکت مه نه مشکل د هغه چاوی — چې ترلې وی د بنمن په تناوچه
د غلولاري بندول د حاکم کار دی — چاته عرض کړې چې حاکم پو (سے) بوخچه

چې موسترګي ورا و بنتي هغه غله سوه
ریشا اوس دی دا خبر و کړه سوچه

# دال خــور

نه رسیږو په دې توګه خپل مزله له　　پردی لاړ موږ یر ربړ ونه وګاله له
اوس ولاړ یو کښېنته ستر ګی دبل درته　　مال وسر مو و پردوته وبایلله
په خپل لاس سره مو خپل له ټیغه و　　ترسکه و رو رمو پردی بنه وپالله
شرم ندی چی اولاد دبل دال خوردے　　تللی نسی په پوره زړه خپل کاله له
آیا بیا به خپل یاران سره یو ځاے　　په هغه شان به راځی لکه چی تلله
د دیوال ښخه به وینی توبزل کیږے　　یا به ښبنتی موښل کیږی دیوالله
که خدای راوستی ریښا هغه شپی وړځی
داتن لرګی به وا چوو ډالـــه لــه

# گرم سرد

مرد هغه دی چی خیالات لری د مرد
نه چی کنډی ته دوروز ناست وی نامرد

جامعه وړ ته هله روانیږی
چی په وړاندی حرکت وی د فرد فرد

د ملت په مصائبو هغه پوه دی
چی موجود لری په زړه کی ملی درد

هره گوسه، هره تیږه، هره سخره
نه خرڅیږی پر دوکان لکه لاجورد

سرخ رویی په خون خوری نه پیدا کیږی
څویی غم نه وی خوړلی د رنگ زرد

هسی کرچ دی دد ښمن وخت ته برند
چی په اوراوپه اوبو سو گرم سرد

درویشاڼ دی د هغو مقام نصیب وی
چی همیش وی د مظلوم سره همدرد

# خوږی یې مینډلې دی

مخ را لګیدلی دی روان یم د تکړ پر لور
کور ته تګ مشکل سو د بازار او ګدز پر لور
ولې اکثر اولیوني او به چېنلی دی
سمه لاره پاته پرکږوځي د سقر پر لور
ولې دومري ژر ظالم غماز مایوسه کړې یم ست
وصل که دیار غواړي ورځي به د خطر پر لور
مه نا امیده کیږه هر شپه آخر سهار لري
تګ ته ادامه ورکړه په شپه کې د سحر پر لور
مځې پرکږوچي په آخر کې ګمرهان نسي
مخامخ وتلي سمه لار ده د ګدر پر لور
څوک چي په غروب پسې ځي خامخا پرې شپه راځي
سترګې یې پو هیږي چي څوک وګوري دلمر پر لور
لکه چي ریښا اخلګو خوږی هلته مینډلې وی
ځکه حرکت دی مخ په وړاندی د ښالر پر لور

# ترشاتالی

دکلاوی سردی ورك سوی گوره څنګه به سی
عقل تمیز لادرك سوی گوره څنګه به سی
ترشاتالی دی د پیشرفت لاری یی بندی سولی
دوړاندی تګ . ور قلفك سوی گوره څنګه به سی
وندی سوه خلاصه هرچا خپلی، خپلی وندی یوړی
میدان په ویښودی کلك سوی گوره څنګه به سی
باښی د پاسه اوس لا هم د ځارتو ونه وهی
گارګه غوټی ته ځرخك سوی گوره څنګه به سی
بد لارگاونډ تر محکه لاندی دی نغمونه کښېنلی
دریښوکښوته موږك سوی گوره څنګه به سی
وآینده ته ریشا رنګارنګ چورتونه وهی
فکر یی تیت وپرك سوی گوره څنګه به سی

# زړې سکې

ليونيانو ته د ډېرو په ډېر سبت خوبن
د پر سدو پرسرودي په اوربنت خوبن
څوك ډېرې غورځوي سرورته نينبي
څوك وخپل سرته د پرو په بالبنت خوبن

څوك زړې سكې په نوو سكو اخلي
يو په نوو بل په هر څونه زړبنت خوبن
پادشاهان د پادشاهي بقاوي غواړي
د شاهي پايبنت يې تل د پېبنت پر پبنت خوبن

د چا فخروي چې زړ شيخ فاني سے
خوښځمني دي د عمر په كمبنت خوبن
درغتن كاري وبل چا ته پرې ايسبني
استادان يې په غچې يادي په سكبنت خوبن

زه ريښا ځ ليونيو صحت غواړم
وهر چا ته مې سالم عقل دې زبنت خوبن

# غوښې او وېښتان

بلورين زړه کړ سنګدل ريچې ريچې
پکښې پروت د يار تصوير پارچې پارچې

سترګې تللي دي پارچې د تصوير وينې
ځراغان مړه دي . پيش د واړه دريچې

پرهار ونه د زړه ولې سوې وسکړې
نمکې او ښکې پر څاڅې له جوی پچې

چې ميين د زړه پرسر په ويشتل کېږي
د خونې سترګووې هسې تو پنچې

زړګې يو واري غلبيل سو بيا لمبه سو
دا اوس وړانګې د لايز روی که برچې

يو درياب او ښکې ولاړې دې پر ستر ګو
پرتورکاڼې تو يوم د ولچې دولچې

درېشأ د سترګو کسې جراحې کړې
غوښې بېرته کړې ويښتان پخې پنچې

# دعشا قو ستر مجلس

چې د ستر گو درگاه وترم خلوت سی
دا شنا سره صحبت مې سلطنت سی

د جانان خيالونه راسي رانږدې سي
له مالېرې تنهايي سي هم غربت سي

ديار خيال مې له ازله په نصيب دی
په رڼو ستر گو د وصل د يد فرقت سي

په خيالي وصل کې هيڅ غمازان نسته
په شاهي دربار کې واړه رااوچت سي

هغه وخت غمازان ډېر راته خبنمېږي
چې رسوا مې کله مينه محبت سي

دعشا قو ستر مجلس کله کم وخت جوړ سو
دريشاد غلبلو به بې طاقت سي

# د خزانې بالون

بیروني حالات خو وینې هسې اور وا خست درون
د کافر زړه لا پخیږي کېږي ولیدی پوخ تون

په تیکه یې چوراخستي نه بیریږي نه شرمیږي
نن چې دومره ګنهګار سو ګنهګار نه وو پرون

داړه مار سول سپین سترګي نه حیا لري نه وهم
اوس دد ے زماني غله په سپینه ورځ کوي شجون

کړو لا رود ے ګیر کړي د خلاصون لاره یې څه ده
راسي و بنیاست پوهانو سمه لاره د سمون

تر دې نور سپکاوي څه دی په نظر د عامو خاصو
چې جوال د خزانو و ے په هوا لکه بالون

چې قلم کاغذ را وا خلـم    زما مضمون گډ له وړو سے
پرهغه کاغذ تـرسيم سے    دبد کار سـړی کارتون

دخـير نور ړو د پـاره    ريشا بله پـاکی نسـته
په اخلاص سـره تـوبه    دهسی خـير وده صابون

# څنې ورکه ده

اقتصاد د ملک شوه سر مفلسي سوه
بيئ جګي سوي د هر شي . بې پرسي سوه
سرمايئ او ماغزه دواړه ور وتله
پدي عين مفلسي کي بې کسي سوه
د تعليم او تربيي مکتب ويران سو
شاګردان يي غمزيي سوه ياچرسي سوه
د چامينه ديوه مخه سپيره ده
چاته جوړه پر بهر ګل هوسي سوه
افغانان دي شو په شود بل دلاسه
که يو څای سي نو بدله پالیسي سوه
ولی دومره ومرګي ته انتظار یاست
پر څه پیبنه و بشرته بې وسي سوه
د خپل څان چاره پخپله وکړی خلګو
د مسئولو لاره ورکه اساسي سوه

# د همت خواره

دپستۍ خواره دی کله د مړو خوښ
دپستۍ خواره لا ډیر دی د مړو خوښ
که غواړې ته شفتل ډیر پراخ رسیدله
بیا هم دی په ډک آخور وی د پړو خوښ
پر پردی مال مسلمان تجاوز نکړی
داره ماره وی هر کله په داړو خوښ
د همت خواره سړو ته د لذت دی
جناور وی د مردار و په خوړو خوښ
وانسان ته د سړو غوښې مرداری
مردار خور چنجیان په غوښو د سړو خوښ
یو میږی به رحم دل کس آزار نکړی
ظالمان دی د مظلوم په غرغړو خوښ
ریشاُن له دی موجود حاله په تنګ سو
ترداهسی ژوند په قبر دی د مړو خوښ

# دکندهار میوې

دمیوو دی ساری نشته پرفانی
هر سړی یې دخوړك دی ارماني

اناران دکندهار خوراپه نام دی
پر نړی یې کله سته شنړخانے

یو ویشت قسمه انګوران یې ما حسابٔ
چې لاڅوبه وی له مانه پټ پنهانی

دچهار مغز و خوشبویي ده پر کیفه
منۍ منی یې نه لری ثانی

دشلیلو رنګ وخوند یې بی مثاله
خوندوري یې سره ګرچه ارغوانی

بیدانه توت یې لری څو صفتونه
یو خوارږه. بل خوندور. بل پریوانے

دهنداونو دانځر خبری مکړه
مګر هو چې سی آخر ته خزانی

ناك چې خولی لره وررو رسید او به سبے
بې غابنو ته یې خوړك په اسانی

په توصیف یې ریشاٴ څوك کله مړیږی
چې وخ ته یې پرتې نه وی آنی

# خیري ګرالبي

باغ لرم باغچې لرم . رقم ، رقم میوې لرم
غوا لرم رمې لرم . اوښان ګلې ګلې لرم

خره لرم . غوایي لرم چرګان لرم بوزې لرم
کورت لرم . غوړي لرم . مستې لرم شلومبې لرم

کور لرم . کلا لرم . تاریخ افتخارات لرم
قوم لرم . فرهنګ لرم . مسجد او هدیرې لرم

غرونه ، معدنونه ، خزانې پکښې پرتې لرم
ځمکې شنه پټي لرم بهاندې سرچینې لرم

نوم لرم ټبر لرم . ځوانان لرمه واك لرم
ولې ؟ خیري ګرالبي دي کمیس ګولې ګولې لرم

پوه یم زما هستي ته بیګانه وو غلي کړیدي
هو ښې کوه غلیمه چې اوس هم وینې تودې لرم

# شلغم

ای بې دوسته بې قریبه بې همدمه
نه دی وکړه له غموخه لږ خه دمه

د بنادی خوږی دی لږ څه په خوله نکړی
شل غمونه دی ډیر وو هل پردمه

سپینه ورځ دی په تیاره سوله بدله
په تیاروکی بیره وی د مار لړمه

انسانی خصلت زمان دی وحشی کړی
انسانان واړه پیدا دی د آدمه

په ژوندونی بې لویدلی تاترین ته
پس له مرګه به دی کمه خواسی سمه

خو د پاسه د رحمت باران ونسی
نه شنه کیږی وچه مځکه بې له نمه

نن یو ډیر و سیا بختیو راګیر کړی
ریښا زر د روښنایی نلری تمه

# دنیستي چاره ساز

ډیر هستمن ومه پرخه سوم بې هستي
دوی کوی زما په هستي پر ما مستي
ماپه صدق لاس ور کړی وروده ته
ده ونه درلودی پاس زما دراستي
اوس هم زه پرپخوانی قول ولاړیم
مگر نه غواړمه بیا لاس دپستي
پروامه کوه چې نن زه تهی دست یم
ژربه تیری سي پرماداتنگ دستي
خوکی یې نه مني چې گوته پرماشه وي
نوربه نه وي په توپک خود پرستي
زه وهغواړادولره تسلیم یم
چې په تش لاس ماتوی زبردستي
ریښتیا داسي منتخب مشرتوب غواړي
چې ملت ته چاره سازسي دنیستي

# توغندی راتوغوی

هم یې سکنې هم یې ځان ته رغوی
ځان اولاد د بل په غوښو چاغوی

ځان د دوست په شان ښکاره کې په ظاهر
په عمل کې توغندی راتوغوی

مور و خور لوبیان د مخه ځنې ولاړه
ماشومان وا ړه یې وروسته چغوی

د هغه خوارد مرگی ورستی سلگی دی
لاې بند پر بند په سره سیخ داغوی

سوی کربړی دی په گډی توری بڼې
خدای ناترسه یې لانور هم بوغوی

عملی ښه یې هرچا ته څرگند ده
مناسب نوم یې پیدا کړه لغوی

ریښا دم ناست دی پر خوله یې لاس نیولې
د ښمنان راځی ناحق یې ږغوی

# دغلو مله

دشیطان پرلارچي دروی گمرهي وي
هغه غله وي چي دغلو دلاری مله وي

څوك دي نه وايي چي نن زه دخپل سريم
څه چي حکم کړي حاکم دده په کړه وی

ډير ساده وی بیچاره دعقله پاتـه
چي گروکړي يې پربل دسرما غزه وی

چي اختیار دځان ونلري مړيي دی
که هرڅو يې ملا، اوږی تللی په بره وی

په خوږ والی شيرينيو هغه پوه دی
ترخوله کړي چي يې يوځلي ترخه وی

نه راگرزي په وینا دکږ و لار و
چي دبد و همشين سره يې تله وی

خام کله دی په وینا کله پوهيږی
کله ،کله ریشا ُستاویل پاخه وی

# د شيطان لینگته

چې بې شته شته هغه نور هم غم د ځان خوري
چې بې وسه وي هغه غم د ځان خوري

د مظلوم د بې وزلې غم چا ونه خوړ
لا پر سر باندې هنور د مرګ سوکان خوري

خود خواهان دي بشر ته دکې کړي
یا په مرګ یا په ژوندني بې هرآن خوري

څوك د توپ په خوله کوي د زور خبرې
څوك پر خوله لويږي. د لوږې څه نوكان خوري

په تخنيك څوك په يو پښه ځي سپوږمۍ ته
غوزاريد وته څوك لينګتي د شيطان خوري

د بهار ګلونه تل په باغ کې نه وي
هر بهار ورسته ځیږه د خزان خوري

په خيالي دنيا ريشاؤ به څه کړي جوړه
چې ستا مخ ته پريوه غران قرآن خوري

# اخلاقي ښایست

تأثیر نکړی نرمه ژبه پر د بره مؤثری دی پر سر ضرب د ماتول
سنګینی په یو ځای توب کی وموجوده په زره، زره کی وی د زری تول
لیونیان په هدیروکی وی خوشحاله که یی پروت هم وی پر سر سلطانے خول
هره ښځه په کمال اخلاق ښایسته وے ښایښت ندی په کالو، رنګ و پسول
د چاروی چی خالی مغزه بیکارك وو لاندی باندی به لرګی خوری لکه ډول
که امیددی وی د رحم د ظالمه تش به ګرزوی مدام د خواست کچکول
پر بی وزلو که یی رحم شفقت وو په اولس کی وی د هسی خلګو رول
د ریشا مرګ ته اسباب ډیر برابر دی
د علاج یی نه ډاکتر سته نه امپول

# پېژندل سوی غله

چې ورو روڼي وي وکنډي تېرې غل　　　له هغه څخه به نوي بل ارذل
پېژند سوی غل چې هر څه په زور یوسي　　　بې فایدې ده چې وراخلې پسې پل
پردي لار له سارقینو سا تل ګران دي　　　ساتندوی چې د هغو سره وي مل
چې دادګاه وی له تهدابه نړېدلې　　　فریادي به چېرې وکړي خپل تسل
تفاوت چې د حلال حرام و نکړي　　　د هغو خولې دي وي ډکې په جعل
په لمبو کې که ورولوېد تناره ته　　　شاو خواسې پر وجود اوروند بل

د رېښا پر لوی ښبنتن باندې توکل دی
څه چې کیږي نوشتې دي د ازل

# غراره سوه

دهمت جوغه له سره راشوه سره
دشملي څنده پرنس باندی تکیه سوه
په حرامو چې يې ګيډه ډکولي
هغه هم دنس وخولي څخه ایله سوه
چې دفخر په لمړی صف کی ولاړ وه
جماعت يې شاته ولاړی شرمنده سوه
څه شي ولاړه څه شي راغله نتيجه څه؟
سوده دچا پر سر باندی چپه سوه
امُیدوند دی په خاور ولړل سوی
دامُید ماڼی تخریب سوه ویرانه سوه
ناقابل خیاط چینه جوړ وله
خو په سکبنت کې ځنی ولاړه غراره سوه
دریشاُ وخت په ګرومو سره تیریږی
څنګه وسی دغه ډول زمانه سوه

# دمړوسترګو خواړه

ای خواستګره ځان ته لږ څه تکان ورکړه
زندګی ته دی یو نوی دوران ورکړه

یا دی خپله ګرځی د ژوند کړه ټوله
یا و مړوا ښکوته رنګ د تو پان ورکړه

کچکول لاس دی دهمت پر یوم تکیه کړه
شنه بهار لره نجات د خزان ورکړه

لاس نیول بل ته همت شجاعت نه دی
لاس نیوی ته قوی لاس د افغان ورکړه

دمحنت پر ملا د غاړی رسی تاوکړه
ځان اولاد ته دمرګی څه امان ورکړه

شکولا په کج مغزی مه نیسه چاته
مه داوایه چی باداره غران ور کړه

په کږ ولاسو کارنه ترسره کیږی
په قوی لاسو د کار اطمینان ورکړه

دمړوسترګو خواړه کله دمزی وی
دمړوسترګو کاسو امتحان ورکړه

ریشاومره خود بله طمع مکړه
واولاد ته هم دغه سی اعلان وکړه

# دسولی طرفدار

په نړی کی زه دسولی طرفداریم
دبشر د آرمی ډیر امیدواریم

دجنګو دکشت خون څخه منفوریم
دسلاح د استعمال څخه سخت بیزاریم

دوروری برادری دڅوند دپاره
دلویانو و اقدام ته انتظاریم

نړی وال دی موجوده شخړو تنګ کړ
دقدرت دخاوندانو څخه ازاریم

په پیسو جنګ رانیونه سربښندل دی
که می جنګ له نړی ویوست نوسرداریم

دتوپک په زور زړه نه رانیول کیږی
په دوستی سره د زړو نو خریداریم

دجګړی دواړه جهته تاوانی دی
صرف دڅوکسوله ګټو څخه جاریم

که دسولی په باره کی هر اقدام وی
زه ریشاورته په سرمال تیاریم

PROPERTY OF ARIC Established 1989

PROPERTY OF ACKU 7050

# پتی کـــرړی

دابد دپاره پاته سوی په مـړوکی پـتی کـرړی
څوك يې نسي اوريدلای په قبروکی پتی کـرړی

لابه پاته وی په زړوکی دوتـوکا بړيي نســـته
لانامراده دی پـرتی . په تـللو زړ وکی پتی کـرړی

ماليدلی اوريدلی د بيبيانو ســـوی کـرړی
تـرليدو ډيری خامـوشی په سينوکی پتی کـرړی

چی په ستـرګو ليدلای کيږی سرشکونی نخ شکونی
هسی کله ليدل کيږی په مغزوکی پـتی کـرړی

چی مجال د سوو کـرړويي پخپله پيدا نـکړ
نوبه کم غوږونه اوری په سـړوکی پـتی کـرړی

نن که کـرړی په قبرواو په سينوکی سولی پـتی
په تاريخ کی به ښکاره سی په قلموکی پـتی کرړی

هغه پټ نامـراده زړونه ريشانسی لځولای
چی يې واوروی جهان ته په شعروکی پتی کرړی